# هغه څه چې مونږ د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو څخه واورېدل

[Pashtu]



ROYAL COMMISSION OF INQUIRY INTO THE TERRORIST ATTACK ON CHRISTCHURCH MOSQUES ON 15 MARCH 2019

TE KŌMIHANA UIUI A TE WHAKAEKE KAIWHAKATUMA I NGĀ WHARE KŌRANA O ŌTAUTAHI I TE 15 O POUTŪ-TE-RANGI 2019

26 November 2020

مونږ د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو نه څه واورېدل

خپور شوی په 26 نومبر 2020

ISBN 978-0-473-54879-7 (پي ډي ايف)

ISBN 978-0-473-55300-5 (پيپربيک)


© د چاپ حقونه 2020

دا سند آنلاين په دې ادرس موجود دی:

www.christchurchattack.royalcommission.nz

د ECF او FSC په تصديق شوي کاغذ کارولو سره چاپ شوی کوم چې

د اسيد نه هم پاک او په بيولوژيکه توګه د تجزيې وړ دی



# دا ستاسو کور دی

# او تاسو باید دلته خوندي وای

# [te reo Māori]

ددې انځور د ډالۍ کولو هنرمندې روبي جونز (Ruby Jones) کړې ده.
شاهي کمیسیون د زړه له کومي د روبي د قابلیت او سخاوت مننه کوي.

# د کمشرانو سریزه




## السلام علیکم او tēnā koutou


[۱]  مونږ د ترورستي برید د 51 شهیدانو د whānau ، د ژوندو بچ شوو او شاهدانو او د هغوی د whānau سره د ژورې غمرازۍ په ښودلو سره پیل کول غواړو.  ددې ټولې څېړنې په اوږدو کې تاسو زمونږ د فکر په مرکز کې واست.  مونږ ته د پیل څخه ددې اهمیت معلوم و، خو څومره زیات چې مونږ ستاسو کیسې، تجربې او ثبوتونه واورېدل نو ددې په ریښتیني معنا زمونږ پوهاوي او قدردانۍ یې زیاته وده وکړه.  تاسو مونږ ته د دغه ترورستي برید او د هغه د روانو اثراتو په ځورونکي واقعیت پوهاوی راکړو. کومې تجربې چې تاسو مونږ سره شریکې کړلې هغې مونږ نور هم تشویق کړلو چې ځوابونه ولټوو، چې خپلې پوره پوره هڅې وکړو، او تاسو ته دا اطمینان درکړو چې د نیوزیلینډ د ملي امنیت سیستم ددی هدف سره جوړ دی.  مونږ د زړه له کومې ستاسو مننه کوو چې تاسو مونږ سره ولیدل او خپل زړونه او کورونه مو راته پرانیستل او خپلې کیسې مو راسره شریکې کړلې.

[۲]  د هغو کسانو چې په ترورستي برید کې تر ټولو زیات اغېزمن شوي خبرو اورېدلو زمونږ د څېړنې لپاره ډېر معلومات راکړل او د دغه ډول یو وحشتناک برید نه د بېرته جوړېدلو د واقعیت په اړه یې ارزښتناک نظرونه راکړل.  دې په مونږ ډېر تاثیر وکړو، او مونږ باور لرو چې دې زمونږ د راپور دلا بداینه کې زیاتوالی وکړو.

[۳]  مونږ د هغو کسانو هم مننه او قدرداني کوو کومو چې په هر دلیل مونږ سره خپلې تجربې شریکې نه کړلې یا یې شریکولی نشولې، په دې خاطر چې احساس یې کاوه چې هغوی لپاره وخت او شرایط صحیح نه دي، او یا په بل هر دلیل.  مونږ پوهېږو چې په یوه رسمي، وخت سره تړلې پروسه کې ترون او تماس د هغو ټولو کسانو اړتیاوې پوره نه کړلې کومو چې مونږ سره خبرې کول غوښتل.  مونږ دا خبره په رسمیت پیژنو چې کومې کیسی، تجربې او ثبوتونه دلته تشریح شوي دي هغه د ترورستي برید د ټولو 51 شهیدانو د whānau ، او ژوندو بچ شوو او شاهدانو استازیتوب نه کوي.  مونږ لوستونکو ته بلنه ورکوو چې دا پاڼې پرانیزي او په هغو نظرونو فکر او انعکاس وکړي د کومو چې مونږ امتیاز لرلو چې په ترورستي برید کې د ځینو تر ټولو زیاتو اغېزمنو شوو څخه یې ترلاسه کړو.



جیکی کائن
غړی



محترم سر ولیم ینگ KNZM
رییس

# فهرست


مشرانو سریزه ..... 4
لغات ..... 6
لومړی څپرکی: ترا‌و ..... 8
په 15 مارچ 2019 د کرایسټ چرچ په جوماتونو د تروريستي برید په اړه د شاهي کمیسیون څېړنه ..... 8
د څېړنې محدودیتونه ..... 9
د څېړنې مهالویش ..... 9
ددې راپور هدف او زمونږ پروسه ..... 10
هغه څه چې مونږ د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو څخه وپوښتل ..... 13
دویم څبرکی: د تروريستي برید تاثیر ..... 15
د تروريستي برید نبغ په نېغه تاثیرات ..... 15
ثانوي تاثیرات ..... 17
د پراخه نیوزیلینډي ټولنو لخوا مرسته ..... 18
د عامه سکټور د ادارو لخوا صحیح مرسته ترلاسه کول ستونزمنه ده ..... 18
د کولتوري پوهاوي نشتوالی ..... 18
تګلارې او چارې د رغېدنې د اړتیاو د مرستي لپاره په پوره ډول عملي نه وې ..... 21
د عامه سکټور د ادارو ترمینځ د همغږی نشتوالی ..... 22
په کړنلاره کې د انعطاف نشتوالی ..... 23
د عملي د آګاهی نشتوالی ..... 25
دریم څپرکی: د مسلمان په صفت نیوزیلینډ کې ژوند ..... 27
د نیوزیلینډ په اړه نظر په عموم کې مثبت دی، ولې پراخه نژادپرستي، تبعیض او اسلاموفوبیا شتون لري ..... 27
د تعصب اغېز (په ناخبری کې یا بل ډول)، په ځانګړي ډول رسنیو کې ..... 29
څلورم څپرکی: د هغه فرد په اړه راپورته کړی شوې پوښتني او د عامه سکټور ادارو ته د تروريست په اړه څه معلوم وو ..... 33
پینځم څپرکی: د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو لخوا وړاندې شوې حل لاری ..... 35
په جوماتونو کې زیات امنیت ..... 35
بشري حقونو، تنوع ته غاړه ورکول او د زیانمن افراطیت تاثیرات کمول ..... 36
د نیوزیلینډ ملي امنیتي سیستم کې بهتریاني ..... 38
شپږم څپرکی: نور معاملات چې د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو پاتي شوو او شاهدانو لخوا راپورته کړی شوي ..... 41
د تروريستي برید په وړاندې د نیوزیلینډ د پولیسو غبرګون ..... 41
د جنايي عدالت د سیستم سره د فرد تعامل ..... 42
ضمیمه: ددې سند د چمتو کولو پروسه ..... 43

# لغات

| اصطلاح | تعریف |
|---|---|
| حجاب | یو د سر پټولو کالی چې مسلماني ښځې يې عام محضر کې اغوندي. |
| استخباراتي او امنيتي اداري | د دولتي ارتباطاتو امنيتي دفتر او د نيوزيلينډ د امنيتي استخباراتو خدمت. دا د 2017 د استخباراتي او امنيتي قانون لاندې یوه په قانون کې تعيين شوې اصطلاح ده. |
| مساجد | دوو نه زياتو جوماتونو لپاره عربي اصطلاح |
| مسجد | په عربی کې د جومات اصطلاح، د مسلمانانو د عبادت ځای. په عربی کې د مسجد لفظي معنا ده '(لمانځه کی) د سجدې ځای'. |
| مسجد النور | د النور جومات عربي نوم |
| مسجدين | دوو جوماتونو لپاره د عربی اصطلاح |
| شهيدان | شهيد" لپاره د عربی جمعه اصطلاح. په دې سند کې د شهيدانو" اصطلاح هغو خلکو ته د اشارې لپاره کارول شوې ده کوم چې په 15 مارچ 2019 د تروريستي بريد په نتيجه کې شهيدان شول. |
| د نيوزيلينډ سراسري استخباراتي ټولنه | د عامه سکټور د ادارو هغه ډله چې پټ استخبارات راغونډوي، ارزوي يې يا ترې بل ډول استفاده کوي، او هغه اداري چې د خارجي او داخلي ټګلارې او عملیاتو لپاره رازدارانه استخبارات راغونډوي او/يا کاروي. په دې کې د نيوزيلينډ د استخباراتي ټولنې (د لومړي وزير او کابينې د وزارت ملي امنيت ډله، د دولتي ارتباطاتو امنيتي دفتر او د نيوزيلينډ امنيتي دفتر او د نيوزيلينډ د امنيتي استخباراتو خدمت) اداري او نور د عامه سکټور اداري لکه د زندانونو وزارت، د نيوزيلينډ د مهاجرت دفتر، د اساسي صنعتونو وزارت، د نيوزيلينډ د ګمرکاتو خدمت، د نيوزيلينډ د دفاع ځواک او د نيوزيلينډ پوليس شامل دي. |
| whānau | په Te reo Māori (Māori ژبه) کې د کورنۍ اصطلاح. |



# لومړی څپرکی: تړاو

[۱] په 15 مارچ 2019 یو د ښي نظريي تروروست کرایسټ چرچ کې په مسجد النور او لینووډ اسلامي مرکز په داسي حال کې برید وکړو چې عبادت کوونکي په لمانځه بوخت وو. یو پنځوس کسان وژل شوي وو او 40 تنه نور د ټوپک په ډزو ټپیان شوي وو.

[۲] د دغه تروریستي برید په ځواب کې د دولت په اقدام کې دا دوه د پام وړ اعلانونه شامل وو:

أ. یو اعلان په 21 مارچ 2019 چې د نظامي انداز په نیمه اتوماتیکو او د حملې ټوپکېو به په سمدستي توګه بندیز وي او ورسره به د لوړ ظرفیت په شاجرو هم بندیز وي. یو د بېرته اخیستلو پروګرام به په لاره اچول کېږي.

ب. یو اعلان په 25 مارچ 2019 چې د څېړنې یو شاهي کمیسیون به جوړېږي تر څو د هغو پېښو څېړنه وکړي د کومو په نتیجه کې چې تروریستي برید رامنځته شو.

[۳] په 26 مارچ 2020 یو استرالیایي سړي باندې د 51 ځله قتل، 40 ځله د قتل هڅه او یو تروریزم چې تړون یې دغه تروریستي برید سره و تورونه ثابت شول. په 27 اګست 2020 هغه ته د مشروطي ازادۍ نه غیر د ټول عمر د زندان جزا ورکړی شوه. په 1 سپتمبر 2020 د نیوزیلینډ لومړۍ وزیرې دغه سړی د 2002 د تروریزم د ځپلو د قانون د 22مې برخې لاندې یو تروریستي بنسټ ونومولو. د نیوزیلینډ د قانون سازۍ لاندې د تروریستي بنسټونو اثاثې کنګل کېږي او نورو لپاره هم دا یو جرم ګڼل کېږي چې د نومول شوو تروریستي بنسټونو په فعالیتونو کې ګډون وکړي یا یې حمایت وکړي. مونږ دا خبره غوره کړې چې دې سند کې د دغه تروریست نوم یاد نکړو او په ځای یې عموم کې هغه د "فرد" په توګه یاد کړو.

## په 15 مارچ 2019 د کرایسټ چرچ په جوماتونو د تروریستي برید په اړه د شاهي کمیسیون څېړنه

[۴] په 15 مارچ 2019 کرایسټ چرچ کې په جوماتونو د تروریستي برید په اړه د څېړنې شاهي کمیسیون (شاهي کمیسیون) دې لپاره جوړ شو چې 15 مارچ 2019 نه مخکې د دغه فرد د فعالیتونو په اړه څېړنه وکړي او دا موضوعات وپلټي:

أ. د 15 مارچ 2019 نه مخکې د دغه فرد په اړه د عامه سکټور کومو ادارو ته څه معلوم وو؛

ب. د عامه سکټور ادارو دغو معلوماتو سره څه کړي (که څه یې کړي وي)؛

ت. آیا داسي نور څه هم وو چې د عامه سکټور ادارو د دغه تروریستي برید د مخنیوي لپاره کولی شول؛ او

ث. د عامه سکټور ادارې نور باید څه وکړي چې راتلونکي کې د دغه ډول تروریستي بریدونو مخنیوی وکړي.

[۵] شاهي کمیسیون باید په دې موضوعاتو موندني وکړي:

أ. آیا د عامه سکټور ادارو داسي معلومات لرل چې هغوی یې د دغه تروریستي برید په اړه بیدارولی شول؛

ب. د عامه سکټور ادارو یو بل سره څنګه کار کړی او څنګه یې یو بل سره معلومات شریک کړي دي؛

ت. آیا د عامه سکټور ادارې تروریزم سره د مقابلې د سرچینو د نامناسب تمرکز له امله د برید په اړه پوهېدو کې ناکامې شوې وې؛

ث. آیا د عامه سکټور ادارې د لازمو معیارونو په پوره کولو کې ناکامې شوې وې یا په بله کومه طریقه یې غلطي کړې؛ او

ج. د بشپړ راپور د برابرولو لپاره نورې کومې اړینې مسئلې.

[۶] شاهي کمیسیون باید په دې موضوعاتو سپارښتنې وکړي:

أ. د عامه سکټور د ادارو لخوا د معلوماتو د راغونډولو، شریکولو او تحلیل کولو په لړ کې کومې ښه والی باید راوستلی شي؛

ب. راتلونکي کې د نورو تروریستي بریدونو د مخنیوي لپاره د عامه سکټور د ادارې سیستمونه او عملیاتي چارې څنګه بهترې کېدلی شي؛ او

ت. د بشپړ راپور د برابرولو لپاره نورې کومې اړینې مسئلې.

[۷] په دې سپارښتنو کې قانون سازۍ کې (د وسلو د قانون سازۍ نه غیر)، تګلاره، مقرراتو، معیارونو او فعالیتي چارو کې بدلونونه شامل دي.

## د څېړنې محدودیتونه

[۸] شاهي کمیسیون ته اجازه نشته چې په دې موضوعاتو کې څېړنه وکړي:

أ. د داسې کوم فرد د قصور یا بې ګناهۍ په اړه چې د تروریستي برید په تړاو جرم کې تورن شوی وي ، یا ښایي شي؛

ب. د وسلو قانون سازۍ کې تعدیلات؛

ت. د عامه سکټور نه بهر ادارو فعالیتونه، لکه د رسنیو پلیټ فورمونه؛ او

ث. کله چې برید پیل شو نو بیا د عامه سکټور ادارو څرنګه غبرګون ښودلی و.

## د څېړنې مهالویش

[۹] شاهي کمیسیون په 10 اپریل 2019 پیل وکړ او ثبوت ترلاسه کول یې په 13 می 2019 شروع کړو. زمونږ څېړنې د جوړېدو نه نیولې تر ټولنو سره تړون او تماس، تحقیق کولو او ثبوت راغونډولو، د ثبوتي مرکو ترسره کولو، تحقیق او غور، او د راپور د جوړولو او وړاندې کولو پورې ګڼ په یو بل اوښتي پړاوونه لرل.

[۱۰]  د راپور ورکولو اصلي نېټه چې 10 دسمبر 2019 وروسته په دوه مواقعو د راپور د نهايي نېټې 26 نومبر 2020 پورې تمديد کړی شوه.  دا تمديديدنې په دې خاطر اړينې وې چې:

- د هغو موادو چې مونږ يې ارزونه کوله حجم ډېر زيات و؛ او
- د کوويډ19- د وبا له امله رامينځته شوې ګډوډي.

[۱۱] مونږ خپل راپور ګورنر-جنرل Dame Patsy Reddy ته وړاندې کړو.  ګورنر-جنرل دا راپور دولت ته د هغوی د غور لپاره تحويل کړو.

**ددې راپور هدف او زمونږ پروسه**

[۱۲]  د شاهي کميسيون د پروسې يوه مهمه برخه دا وه چې د 51 شهيدانو (هغه کسان چې د تروريستي بريد په نتيجه کې شهيدان شول) د whānau ، او د تروريستي بريد نه ژوندي بچ پاتې شوو او شاهدانو او د هغوی د whānau  سره تماس او تړون وشي.  هغوی زمونږ د څېړنې او فکر په زړه کې وو.  دا د څېړنې شاهي کميسيون د 15 مارچ 2019 د هغې فاجعې له امله جوړ شوی کومې چې ډېر زيات غم، درد او زيان رامينځته کړی.

[۱۳]  دې ډله خلکو ته په ډله ييزه توګه قربانيان ويل کېدلی شي، کوم چې هغه زيان تصديقوي چې دوی ورسره مخ شوي دي.  البته ځينې نور کسان د قرباني اصطلاح نه خوښوي.  د ژوندو بچ شوو په اړه هم همداسې ګډوډ نظرونه دي.  د اغېزمنو شوو څخه ځينې ښځې نه غواړي چې کومه ټاپه پرې ولګول شي. ددې سند لپاره مونږ د تروريستي بريد د  51 شهيدانو د whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو او د هغوی د whānau لپاره د "اغېزمن شوي whānau ، ژوندي بچ شوي او شاهدان" توضيح څخه استفاده کوو.

[۱۴]  ددې سند اساسي تمرکز په دې دی چې هغه څه چې مونږ د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو پاتې شوو او شاهدانو څخه اورېدلي په جامع ډول ثبت کړو.  د هغه څه چې مونږ اورېدلي د اهميت په نظر کې نيولو سره مونږ ته دا مهمه محسوسېږي چې په تروريستي بريد کې د تر ټولو زياتو اغېزمنو شوو د کيسو، تجربو او ثبوت مننه او قدرداني وکړو.

[۱۵]  مونږ غوښتل چې اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو سره ليدلو ته لومړيتوب ورکړو، که چيرته هغوی ليدل غوښتل.  مونږ د شهيدانو د مېرمنو، خاوندانو، ميندو، پلارانو، ورونو، خويندو، زامنو، لوڼو، تروريانو، ترونواو تره بچو سره وليدل.  په همدې توګه، مونږ هغوی سره چې په تروريستي بريد کې ټپيان شوي دي (په فزيکي او/يا ذهني توګه)، بريد کې ژوندي بچ شوو او شاهدانو او ددوی whānau وليدل.

[۱۶]   کله چې مونږ خپله پروسه پيل کړه نو مونږ د ټولو اغېزمنو شوو whānau ، ژوند بچ شوو او شاهدانو ليسټ نه لرلو.  د محرميت په خاطر د عامه سکټور اړوندې ادارو او ټولنيزو سازمانونو توان نه لرلو چې مونږ سره د هغوی نومونه او د تماس معلومات شريک کړي.  ددې لپاره چې مونږ تر امکاني حده اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو سره د تماس هڅه وکړو، مونږ په ازاده توګه په بريد کې د ټولو نه زياتو اغېزمنو شوو ته بلنه ورکړه چې مونږ سره په خپلو شرطونو ووينې.

[۱۷]  مونږ له محلي امامانو وغوښتل چې خلک خبر کړي چې که هغوی غواړي نو مونږ سره ليدلی شي.  ددې خبرې د يقيني کولو لپاره چې زمونږ بلنه تر امکاني حده زيات نه زيات خلکو ته ورسېږي، مونږ نورو ډلو/سازمانونو سره هم تماس ونيولو چې مونږ سره د ليدلو د فرصت په اړه د خلکو په خبرولو کې کومک وکړي، چې په هغوی کې د کرايسټ چرچ Muslim Liaison Group، زمونږ د Muslim Community Reference Group غړي، د قربانيانو حمايت او د ټولنيزې پرمختيا وزارت شامل دي.  مونږ دا بلنه په خپل ويبسايټ، د رسنيو په خبرپاڼو، په ملاقاتونو کې خلکو ته، په 0800 لاين زنګ

وهونکو ته هم ورسوله او د بلني نقلونه مو د دواړو مسجدونو د اعلانونو په تختو هم ولګوله.

[۱۸] مونږ سره همداراز د ټولنې پر اساس وکیلانو JustCommunity، او د ټولنې پر اساس مشورتي خدمت Navigate Your Way Trust لخوا مرسته وشوه، کومو چې مونږ سره په وړو او غټو ډله ملاقاتونو کې د اغېزمنو شوو د whānau ، ژوند بچ شوو او شاهدانو سره لیدلو کې مرسته وکړه. ددې سازمانونو مرستي مونږ ته دا فرصت په لاس راکړو چې د ځینو هغو خلکو خبرې هم واورو کومو سره چې ښایي مونږ په بله طریقه تماس نیولو کې نه وای توانېدلی. مونږ د هغوی د مرستي او کومک منندوی یو.

[۱۹] مونږ خلکو سره د هغوی په خپلو شرطونو او وختونو، او چیرته چې یې امکان لرلو، داسي ځایونو کې چې هغوی لپاره تر ټولو زیات مناسب وو ولیدل. ځینو خلکو مونږ خپلو کورونو ته وبللو، ځینو نورو لپاره اسانه وه چې ټولنیزو مرکزونو، سیمه ییزو کیفو، یا هوټل یا د کتابتون د ملاقات په اطاقونو کې ورسره ووینو. ټول ملاقاتونه په خصوصي توګه ترسره شول او مونږ د کولتوري او دیني چارو احترام ته ځانګړې توجو وکړه او ډېرو خلکو چې کومه صدمه لیدلې وه نو هغې ته مو پام و.

[۲۰] هغه اغېزمن شوي whānau ، ژوندي بچ شوي او شاهدان چې مونږ ورسره ولیدل د 22 نه زیاتو بېلابېلو هیوادونو څخه وو او د 50 نه زیاتو ژبو باندې یې خبرې کولې. هغوی سره د تماس نیولو پر مهال باید دا ټولې خبرې په نظر کې نیول شوې وی.

[۲۱] ځینې اغېزمن شوي whānau ، ژوندي بچ شوي او شاهدان د ملاقات لپاره سمدستي تیار او لېوال وو. نورو زیات وخت ته اړتیا لرله. مونږ د غمځپلو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو احترام کول غوښتل. مونږ همداراز غوښتل چې اسلامي مراسم او اعمال، په ګډون د غم د عدت د مودې، رمضان، کوچني اختر، ذوالحجه، غټ اختر، حج او محرم په مناسبه طریقه ترسره کړو.

[۲۲] څنګه څنګه چې دا پروسه مخته تلله نو مونږ زده کړه کوله او هر څه مو تل په صحیح طریقه ونکړل. کله چې ځینې کارونه په صحیح توګه نه ترسره کېدل نو د نظرونو ترلاسه کولو قدرداني مو کوله، لکه دا چې د ترجمان غم نه خوړل په داسې حال کې چې که ترجمان وی نو یو څوک به یې بهتر په دې توانولی وی چې مونږ سره یې په زیاته اسانی خبرې کړې وی، یا د یو اطاق داسې جوړول چې د قوت بې توازني ترې څرګندېدله. داسې نظرونو مونږ سره کومک کولو چه خپله کړنلاره داسې بدله کړو چې خلک مونږ سره په تماس کې ځان ارام احساس کړي، او دا چې هغوی داسې احساس وکړي چې یو داسې خوندي ځای کې دي چې غږ به یې اورېدل کېږي. مونږ هیله لرو چې زمونږ په مناسبه او خوندي طریقه د تړون او تماس اراده واضحه وه، هغه وختونه هم چې مونږ صحیح ونکړل.

[۲۳] په 15 مارچ 2019 د تروریستي برید له امله تر ټولو زیاتو اغېزمنو سره په ملاقاتونو کې یو شمېر داسې شیان وو چې مونږ یې لاس ته راوړل غوښتل. مونږ غوښتل چې خلک داسې فرصت ولري چې مونږ سره خپلې کیسې، خپل ثبوت په خپلو ټکو کې شریک کړي. مونږ غوښتل چې د هر هغه څه په اړه د هغوی نه واورو کوم چې دغه تروریستي برید پورې پېښ شوي وو او/یا د هغوی فکرونه چې زمونږ په څېړنه کې یې په دې اړه کومک کولی شو چې د عامه سکټور ادارې په راتلونکي کې د دغه ډول برید د رامخې ته کېدو د مخنیوي لپاره څه کولی شي.

[۲۴] زمونږ عمومي کړنلاره دا وه چې مونږ تاسو ته د غوږ اېښودلو لپاره موجود يو. اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو ملاقاتونه رهبري کول. خلکو د خپلو هغو خپلو خپلوانو په اړه چې له لاسه يې ورکړي وو په اړه کيسې او يا د تروریستي برید په تړاو خپلې تجربې راسره شریکې کړې. هغوی د شاهي کمیسیون په اړه پوښتنې وکړې، چې دا څشی دی، څنګه کار کوي، او د بدلون راوستلو څه واک لري. ځيني خلک چې مونږ ورسره وليدل د نیوزیلینډ په پولیسو، دولت يا د عامه سکټور په ادارو باندې انتقاد کولو کې محتاط وو، ددې لامل تر څه حده په نورو هیوادونو کې مقاماتو سره د هغوی تجربې او دا اندېښنې وې چې هر ډول انتقاد به هغوی لپاره د منفي نتایجو سبب شي. ځينو احساس کاوه چې د عامه سکټور د ادارو لخوا ورسره هغه مرسته نه کېدله کومې ته چې يې اړتیا لرله، نو د کومک لپاره مونږ ته راتلل، د بیلګې په توګه د کار موندلو کې او يا د اغېزمنو شوو سره په دې کومک کولو کې چې خپل whānau يې نیوزیلینډ ته راشي تر څو د هغوی مرسته وکړي. په دې ډول چیلنجونو کې د خلکو مرسته کول زمونږ د اختیار نه بهر وو، خو چیرته چې يې امکان لرلو نو مونږ خلک د عامه سکټور داسې اړوندو ادارو يا سازمانونو ته مراجعه کړل چې په دغسې معاملاتو کې يې ورسره کومک کولی شو.

[۲۵] ځيني شیان چې مونږ په دې ملاقاتونو کې واورېدل زمونږ د حوالې د شرایطو د دایرې نه بهر وو. ولې د حوالې شرایط په مونږ دا هم لازمي کوي چې د نیوزیلینډ ولس ته ډاډ ورکړو. په همدې خاطر مونږ فکر کوو دا مهمه ده چې د هغو مسئلو پراخوالی ثبت کړو کومې چې د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو پاتې شوو او شاهدانو چې مونږ ورسره وليدل لپاره مهمې وې. دا سند د يوه اندازه هغو تجربو او مسئلو لنډيز او ورسره د هغوی احتمالي حل لارې هم وړاندې کوي کومې چې د هغو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو لخوا وړاندې شوي چې مونږ ورسره ملاقاتونه کړي دي.

[۲۶] زمونږ ملاقاتونه د whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو سره په خصوصي توګه ترسره شوي دي. ددې معنا دا ده چې مکالمې د شاهي کمیسیون او هغوی چې مونږ ورسره وليدل ترمینځ رازدارانه وې. مونږ د هغې مرستې او حمایت چې دې اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو سره شوی لپاره د زړه له کومې مننې، صفت او قدرداني واورېدله. خو مونږ د هغوی ژور غم، صدمه او خفګان هم احساس کړو. مونږ دا کیسې او تجربې دلته په دې اراده سره تشریح کوو چې هغوی ته هغه احترام ورکړو د کوم چې مستحق دي. مونږ دا کار په يوه عمومي طریقه کړی دی، زیاتره وخت خاصو افرادو ته له اشارې کولو پرته. د خلکو د محرمیت د حفاظت لپاره د خلکو ټولې نقل شوې خبرې په مستعار ډول نقل شوې دي. په کوم ځای کې چې نقل قول شوی دی نو هغه په عمومي توګه مونږ ته د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو پاتې شوو او شاهدانو د يوې غټې ډلې لخوا راکړی شوی دی او په پراخه اندازه د تجربو او نظرونو استازیتوب کوي. البته مونږ دا خبره په رسمیت پېژنو چې د هغوی نقل قول ښايي د ټولو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو استازیتوب ونکړي.

[۲۷] مونږ د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو مننه او قدرداني کوو چې په ازاد زړه او لېوالتیا يې مونږ سره خبرې وکړې، په ځانګړي ډول د داسې غم په دې موده کې. دې مکالمو او هغه څه چې مونږ ته راکړی شوي زمونږ پروسه ددې خبرې په یقیني کولو سره ډېره زیاته قوي کړه چې 51 شهیدان زمونږ د کار په زړه کې وي، او په دې توګه يې زمونږ راپور زیات غني کړو.

[۲۸] په 15 مارچ 2019 مسجد النور او لینووډ اسلامي مرکز د تروریستي برید په اړه زمونږ د شاهي کمیسیون د راپور په جوړولو کې زمونږ اساس په دې موادو او ورسره تر څنګ يې زمونږ د ملاقاتونو، مرکو او تحقیق څخه ترلاسه شوو معلوماتو باندې دی.

**هغه څه چې مونږ د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو څخه وپوښتل**

[۲۹] مونږ د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو څخه تشریح شوې پوښتنې نه لرلې، بلکې ددې په ځای مو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو ته موقعه ورکړه چې خپلې کیسې او ثبوت راسره په خپلو ټکو کې او په خپل وخت کې شریکې کړي. د اړتیا په وخت کې مونږ پوښتنې دې لپاره وکړې چې بحث تشویق کړو. پوښتنې د هر نفر د ځانګړي وضعیت سره سم جوړې شوې وې او ددې شیانو په اړه پکې پوښتنې شاملې وې:

- په هغوی خپله، په whānau او دوستانو يې د تروروستي برید تاثیر؛
- له تروروستي برید مخکې نیوزیلینډ کې د هغوی د ژوند، په ګډون ددې چې:
  - o په نیوزیلینډ کې یې د ژوند عمومي تجربه څه وه؛ او
  - o آیا د 15 مارچ 2019 نه مخکې یې کله ځان نا امن احساس کړی و او آیا د هغې لپاره یې کومک غوښتلی و یا یې اندېښنې راپورته کړې وې؛
- دولت مخکې وخت کې څه کولی شول چې هغوی سره یې د زیات امنیت په احساس کې کومک کړی وی او نورو خلکو سره یې دې کې کومک کړی وی چې زیات قبول کړي؛ او
- دولت په راتلونکي کې څه کولی شي (یا څه بهتر کولی شي) چې نیوزیلینډ د هر چا لپاره امن کړي او راتلونکي کې د تروروستي بریدونو مخنیوی وکړي.



## دويم څبرکی:  د تروریستي برید تاثیر

**د تروریستي برید نېغ په نېغه تاثيرات**

[۱]  اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو چې خپل خپلوان يې له لاسه ورکړي وو مونږ ته وويل چې دغه تروریستي برید پرې څرنګه تاثير کړی دی.  هغو ژوندو بچ شوو کسانو چې د تروریستي برید په نتیجه کې ټپيان شوي وو، په ګډون د هغوی چې د تېښتې هڅه يې کوله، مونږ ته د بېرته ښه کېدو د سستې پروسې په اړه خبرې وکړې.  ځينې په ذهني او فزیکي دواړه توګه شديد ټپيان شوي دي چې دغه به ټول ژوند په هغوی تاثيرات لري.

[۲]  مونږ د داسې خلکو خبرې واورېدلې چې د بېرته فزیکي جوړېدو د برخې په توګه ګڼ شمېر جراحي عملیات ترسره شوي وو خو په بشپړه توګه روغ شوي نه وو.  ځينې ژوندي بچ شوي به هيڅکله د خپلو اندامونو پوره استعمال بېرته ترلاسه نه کړي.  خلک د کارتوسو د هغه ټوټو چې په بدنونو کې يې پاتې شوي له امله په روان درد او شلتوب کې ژوند کوي.  ځينې ژوندي بچ شوي پوره وخت پاملرنې او په کور کې يې د هغوی لپاره ځانګړو جوړو شوو اسانتياو ته اړتیا لري چې خپلو ټپونو سره ژوند کولو کې يې کومک وکړي.

په هغې ورځ زه د ښي پنډۍ په برنی برخه کې په چره ولګېدم کومه چې زما ځيګر ته لاړه، نور زيان يې رامينځته کړو او اوس هم پکې دننه ده.  دې نږدې وختونو کې زما په ګېډه کې درد و … جراحانو ماته ويلي دي چې چره د خپل ابتدايي ځای نه عضلې ته تللې ده.  هغوی ماته خبر راکړو چې که ګېډې ته لاړه نو بيا به [يې] په راويستلو غور وکړي، ولې په دې مرحله کې اوس [زما] دننه خوندي ده.

[۳]  زياتره ژوندي پاتې شوي په سمدستي توګه بېرته خپل کار ته نشول ستنېدلی، او په ځينو لازمه وه چې د ټپونو له امله خپل روزګار بدل کړي.  په داسې حال کې چې ډېرو ژوندو بچ شوو وويل چې کارفرماو يې رغېدو لپاره د کافي وخت په ورکولو سره حمايت او مرسته کړې، ولې ځينو خلکو خپل وظيفې له لاسه ورکړې ځکه چې خپلې کاري چارې يې نور نشوې ترسره کولی.  يو څو ژوندو بچ شوو خپل کاروبارونه له لاسه ورکړل.

[۴]  اغېزمنو شوو whānau مونږ ته د تروریستي برید نه سمدستي وروسته ساعتونو او ورځو کې د تاثيراتو په اړه وويل.  مونږ ته د هغو چيلنجونو په اړه وويل شول چې خلک نه توانېدل خپل نږدې خپلوان پيدا کړي.

زما د موروپلار يو پېژندګلو وويل چې هغې [زما ورور] د عملياتو اطاق کې ليدلی و. …مور او پلار دې خبر سره په تېزۍ روغتون ته لاړل او النور جومات نه بهر د څلورو ساعتونو د انتظار نه وروسته لاړل چې نور شپږ ساعته د کرايسټ چرچ د روغتون نه بهر انتظار وکړي.  له دې وروسته هغوی ته معلومه شوه چې کوم کس ته زما موروپلار انتظار کولو، مريض لمبر 13، هيڅ [زما ورور] نه و.  په پای کې هغوی ته ويل شوي وو چې چې [زما ورور] لادرکه دی.

[۵]  ډېرو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو چې مونږ ورسره ملاقاتونه وکړل احساس کاوه چې د قربانيانو د پېژندنې پروسې او د هغو کسانو د پېژندنې پروسې چې په روغتون کې يې تداوي کېدله دواړه هغوی لپاره د اضافي او غير ضروري غم سبب کېدلې.  ځينو خلکو وويل چې هغو د تروریستي

برید نه وروسته لومړنیو 24 ساعتونو کې د نیوزیلینډ د پولیسو او د روغتون د عملې څخه متضاد او بې تسلسله معلومات ترلاسه کړي وو. په یو حالت کې، یو نفر چې یو نږدې whānau یې په وژل کېدو لیدلی و د نیوزیلینډ پولیسو او د روغتون عملې ورته ویلي وو چې امید له لاسه نه ورکوي او دا چې کېدلی شي د خپلوان یې په یو بل روغتون کې تداوي وشي. دې درواغ امید د پام وړ اضافي غم سبب شوی و.

[۶] هغه خلک چې مونږ ورسره ولیدل ددې نه چې وفات شوي خپلوان یې د پېښې د ځای نه لیرې کېدلو او بیا یې خپلوان په رسمي توګه د وفات شوو په توګه پېژندل کېدو کې ډېر وخت لګېدلی و نه ناامیده شوي وو. په یو حالت کې، مونږ ته وویل شول چې یو نفر د خپل یو نږدې whānau د مرګ په اړه د ورځپاڼې په یوه لیکنه کې لوستلي وو په داسې حال کې چې د نیوزیلینډ پولیسو ورته مخکې نه خبر نه و ورکړی.

[۷] ځینو اغېزمنو شوو whānau په دې هم خپله ناراضي څرګنده کړه چې د نیوزیلینډ پولیسو اجازه نه وه ورکړې چې د پېښې ځای کې د حصار دننه لاړ شي او خپل خپلوان ولټوي. مونږ ته وویل شول چې ځینو د هغه فرد لخوا د برید ژوندۍ خپره شوې ویډیو ددې لپاره کتلې وه چې معلومه کړي آیا خپل خپلوان یې وژل شوي دي او یا دا چې آیا وبه توانېږي چې هغوی په روغتون کې پیدا کړي.

د معلوماتو، ارتباط، او جومات او خپلو خپلوانو ته د لاسرسي د نشتوالي او د پولیسو د ددې انکار چې صحي عملې ته اجازه ورکړي چې ساعتونه احاطې ته ورننوځي ترمینځ، د قربانیانو خاطره د پېښې نه داده چې دا د بې عاطفې غفلت او بې پروایۍ ښوونه وه.

[۸] خلک ددې نه هم ناراضه وو چې هغه د هغو کسانو چې په روغتون کې یې تداوي کېدله پېژندل کېدلو هم زیات وخت نیولی و. د هغوی پوښتنه دا وه چې آیا د اسلامي نومونو په روایتي ترتیب او دا چې څنګه د اسلامي نومونو د هجو مختلف ډولونه دي کې بې تجربه ګي او د پوهاوي نشتوالی هم ددې ځنډ یو دلیل و که نه. دا همداسې دهغو whānau لپاره هم د ګډوډۍ سبب شوی کومو چې هڅه کوله چې خپل نږدې خپلوان پیدا کړي او ځان پوه کړي چې څه ورپېښ شوي وو.

[۹] هر هغه څوک چې مونږ ورسره ملاقات وکړو، که په تروریستي برید کې اغېزمن شوي whānau ، ژوندي بچ شوي یا که شاهدان وو، په یوه یا بله طریقه یې داسې څه د خفګان تجربه شوې وه لکه غوصه، ډار، سترس، ډپریشن، وېره، وارخطایي او/یا د ژوندي بچ شوي قصور. ډېرو خلکو مشاوره یا نور بل ډول د روانشناسۍ مرسته ترلاسه کړې وه، یا یې ترلاسه کوله، او غوښتل یې چې دغه مرسته روانه وي. ځینو خلکو وویل چې ښځې/خاوند او ماشومان یې هم د رواني تکلیف سره مخ شوي وو.

[۱۰] ډېرو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو چې مونږ ورسره خبرې وکړې په ویده کېدلو کې ستونزه لرله چې د هغې په دلایلو کې د هغو خوبونو نه ډار چې ښایي وې ویني او د خوب په وخت کې ضعیف حالت شامل وو. د خلکو د هغوی د ژوند په اخري شېبو کې د لیدلو تجربه وروسته هم د صدمې باعث وه. مونږ د وحشتناکو ډارونکو خوبونو او رویتونو ډېر داسې مثالونه واورېدل چې ژوندي بچ شوي ورسره مخ شوي، او راته وویل شول چې:

...ددې په ځای چې سړی ویده شي او ډارونکي خوبونه ویني بهتره ده چې ویښ یې او خلکو سره خبرې کوي.

[۱۱] مونږ د هغو ماشومانو د مورو‌پلار نه چې په تروریستي برید کې ژوندي بچ شوي، اکثر ځکه چې هغوی دواړو جوماتونو نه په تېښته توانېدلي وو، واورېدل چې د برید نه راپېدېخوا هغسې ندي څنګه چې پخوا وو. ځیني ماشومان اوس هم د چلند بدلونونه ښيي، نه غواړي چې ښوونځي ته لاړ شي او یا ورته د لوړو غږونو نه صدمه رسېږي. یو مور یا پلار مونږ ته وویل چې احساس کوي خپل ماشوم یې له لاسه ورکړی دی، په داسې حال کې چې ماشوم یې په فزیکي توګه په تروریستي برید کې ژوندی بچ شوی و.

[۱۲] ځینو په ماشومانو د اوږدمهاله تاثیراتو په اړه اندېښنه وښودله، تبصره یې وکړه چې د پېښې په اړه

ښايي غوصه ولري. مونږ ته وويل شول چې کرايسټ چرچ کې مسلمانو ماشومانو سره تماس او تړون به مهم وي، چې تروريستي برید نه د هغوی په اوږدمهاله رغېدنه کې ورسره عملي مرسته وکړی شي.

[۱۳] مونږ ته وويل شول چې د تروريستي برید ځينو شاهدانو چې فزيکي ټپونه ورته نه وو رسېدلي سره مرسته او حمايت نه و شوی تر څو چې دريم جانبه وکيلانو د کومک لپاره قدم نه و اخيستی. نورو چې کومک ته د لاسرسي هڅه کړې وه نو ورته ويل شوي وو چې مستحق ندي او/يا د عامه سکټور د ادارو يا غير دولتي سازمانونو لخوا د تروريستي برید د قربانيانو په توګه درجه بندي شوي ندي. د يو شمېر خلکو نه مونږ په دې باره کې د ګډوډيو په اړه واورېدل چې د بېلابېلو مرستو لپاره څوک حقدار ګڼل شوي وو، دا موضوع به مونږ نوره لاندې وڅېړو.

**ثانوي تاثيرات**

[۱۴] اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو مونږ سره يوه اندازه ثانوي تاثيرات شريک کړل کومو چې د هغوی په ژوند د پام وړ اغېز کړی دی. د ځينو خلکو تعلق (د ښځې/خاوند، whānau او دوستانو) سره اغېزمن شوی و. ددې نتيجه د داسې مسئلو نه وه لکه د دولت لخوا ويشل کېدونکي مالي مرستې په اړه د whānau ترمينځ د نظر اختلاف او يا هغه تاوان چې مرسته کوونکو ته رسېدلی وه. د whānau لپاره دا معمولی خبره وه چې بهرنيو هيوادونو نه راشي او تروريستي برید کې د ژوندو بچ شوو خپلوانو کومک وکړي. دې ناوړه پايلې لرلی شوې او مونږ واورېدل چې دا:

...د کورنی د هغو غړو لپاره نقصاني کېدلی شي کوم چې سمندر پورې هيوادونو کې کامياب مسلکي کار او باثباته، پرمختګ والا ژوند لري. په [نيوزيلينډ] کې احتمالاً د هغوی کاري استعدادونه او کاري تجربې په رسميت ونه پېژندل شي او دا په اوږدمهال کې په يو داسې فاميلي واحد لپاره چې مخکې نه ضعيف حالت کې دی سترس او فشار رامينځته کوي.

[۱۵] د ډېرو هغو whānau څخه چې مونږ ورسره وليدل، خاوند يا وژل شوی و يا شديد ټپي شوی و. په دې whānau کې د ځينو ښځو لپاره عواقب د تروريستي برید د وحشتناک عاطفي تاثير نه ډېر هاخوا وو. ډېرو لپاره ددې معنا دا وه چې whānau خپل اصلي ګټه کوونکو له لاسه ورکړو. ځينې ښځې د whānau مينځ کې يو نوی رول په ځای اخلي او نوي مهارتونه زده کوي لکه موټر چلول يا مالي سواد. په عين وخت کې دا ښځې زيات د مورورپلار مسووليت په ځان اخلي، په داسې حال کې چې د خپل غم او د رغېدنې د اړتياو سره هم لاس او ګريوان دي. دا د دوی وخت او توان محدودوي چې د خپلو ځانونو لپاره کومک پسې وګرځي او معاش والا کار يا زده کړې پيدا کړي.

[۱۶] ځينو خلکو د 15 مارچ 2019 نه ډېر زر وروسته په خپلو نږدې whānau کې د نورو مړو يا مريضی د غم سره مخ شول، کومو ته چې هغوی د تروريستي برید د تاثيراتو سره نسبت ورکړو. مونږ د يوې داسې whānau په اړه واورېدل په کومه کې چې دوه خپلوان د 15 مارچ 2019 نه وروسته مياشتو کې د زړه د حملې سره مخ شول، په کومو کې چې يوه وژونکې وه. په دواړو حالتونو کې whānau د زړه حملې ته د هغه سترس سره نسبت ورکړو چې د تروريستي برید په نتيجه کې رامينځته شوی و. يوې بلې ژوندۍ پاتې شوې خپل خاوند د 15 مارچ 2019 نه وروسته ورځو کې د موټر د پېښې په نتيجه کې له لاسه ورکړو.

هغي د هغي صدمي په اړه خبرې وکړې چې هغه ورسره تروريستي برید کي د هغه د دوستانو له وژل کېدو وروسته مخ و، کوم چې د هغه د خوب نه د محرومۍ سبب شوی وه. فکر کېږي چې ددې په نتيجه کې رامينځته شوې بې حالي او سټريا د موټر د پېښي سبب وه.

**د پراخه نيوزيلينډي ټولنو لخوا مرسته**

[۱۷] ځينو خلکو وويل چې د غير مسلم نيوزيلينډيانو په مرسته او حمايت يې د تشويق احساس وکړو. ډېرو د هغه حسن نيت په اړه خبرې وکړې چې هغوی د تروريستي برید نه وروسته په ټول هيواد کې د خلکو څخه ليدلی او/يا ترلاسه کړی و. داسي حس کېدله چې دا يوه موقعه ده چې د ټولنو ترمينځ ټولنيز پيوستون، يووالی او ترمينځ يې ارتباط بهتر شي.

[۱۸] مونږ د دوستانو او ګاونډيانو لخوا ښودل شوي حمايت مننه واورېدله، او يو whānau وويل چې دې په داسي وخت کې نيوزيلينډ کې د پاتې کېدو اړتيا ته تشويق کړلو چې د تروريستي برید نه وروسته يې په کډه کېدلو غور کولو. داسي هيله وه چې د نيوزيلينډيانو لخوا ښودل شوی حمايت به ادامه ورکړي او د وخت په تېرېدو به هېر نشي.

**د عامه سکټور د ادارو لخوا صحيح مرسته ترلاسه کول ستونزمنه ده**

[۱۹] نيوزيلينډيانو نه د عامي همدردۍ او حمايت لپاره د منني د کيسو ترڅنګ مونږ د عامه سکټور د ادارو څخه د مرستي ترلاسه کولو په لړ کې د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو پاتې شوو او شاهدانو د تجربو په تړاو ډېرې نااميدۍ او ناراضي هم وليدله. عام موضوعات د کولتوري پوهاوي نشتوالی، ددې هڅې د نشتوالي فکر چې کولتوري توان بهتر کړي او داسي تګلارې او چارې چې د ددې ځانګړې، او په خاصه توګه فوق العاده، پېښي څخه د خلکو د رغېدنې د اړتياو د حمايت لپاره په کافي اندازه عملي نه وې.

**د کولتوري پوهاوي نشتوالی**

[۲۰] ډېر خلک چې مونږ يې خبرې واورېدلې د عامه سکټور ادارو کې يې د عملي د اسلامي ټولنې د عقيدو او رواجونو په اړه د عامه کولتوري پوهاوي د نشتوالي يادونه وکړه.

د قربانيانو کورنيو ته داسي خدمتونه وړانديز شوي چې هغه معاملاتي، لنډمهاله او نسبتاً کوتاه فکره وو. عمداً د قرباني ټولنې د ځرنګوالي د درک کولو هڅه نده شوې، او نه په دې اړه دې کيسه کې نغښتې عاطفي تجربې او خاطره وپېژندل شي.

[۲۱] مونږ ته ويل شوي وو چې دا خلاوې ندي پېژندل شوي او د عامه سکټور د اړوندو ادارو لخوا د دې د حل کولو لپاره ډېره کمې هڅې شوې، که چيرته شوې وي.

ددې په ځای چې د چيلنج په وړاندې اقدام وکړی شي تر څو خدمتونه بهتر کړی شي او د کولتوري او ديني استعداد روزنه واخيستل شي، ادارې يا خو هيڅ روزنه نه اخلي او يا فقط ددې اشارې ښودلو لپاره چې اقدام کوي د اسلامي ټولنې دننه په هغو کسانو اتکاء کوي چې د هغوی د لارښوونې لپاره د قومي او ديني استعداد د روزنې په برخه کې هيڅ تخصص نلري.

**اغېزمنو ټولنو ته په فعالیت سره غوږ**
**ایښودل، حمایت یې کول او په مناسبه توګه**
**تماس او تړون - چې دا دربواړه د یو بل نه**
**جلاکېدونکي ندي - قطعاً مهم دي تر څو،**
**په بدل کې یې هغوی ته د مناسبو خدمتونو**
**او مرستې وړاندې کولو توان پیدا کړی**
**شي.**

[۲۲]  مونږ واورېدل چې هغه خدمتونه او مرسته چې د عامه سکټور د ادارو او غیر دولتي سازمانونو لخوا وړاندې کېږي زیاتره وخت د اسلامي ټولنو مختلف نوعیت په صحیح طریقه نه پېژني او له دې امله د هغوی مختلفي اړتیاوې نه پوره کوي.  په هغو کسانو کې چې مسجد النور او لینووډ اسلامي مرکز ته عبادت لپاره ځي د 50 نه زیات هیوادونو خلک دي.  مونږ ته ویل شوي چې داسې د ژبې او کولتوري خنډونه شته کوم چې د عامه سکټور ادارو سره د ارتباط مخکې نه پیچلی چاپېریال نور هم زیاتوي.  مونږ واورېدل چې:

...بریدونو نه د یو کال په تېرېدلو، فامیلونه اوس هم د خدمتونو داسې مناسب پوښښ ته انتظار کوي چې په کولتوري او ژبني توګه ځوابونکي وي او کوم چې د هغوی پیچلې اړتیا په بشپړه توګه حل کوي.

[۲۳]  ځینو whānau احساس کاوه چې د هغوی په اړتیاو د پوهېدلو ریښتینی ارتباط غایب و؛ په کولتوري، فزیکي، د رواني سلامتی له لحاظه او نور ډول.  د نتیجې په توګه، هغوی احساس کاوه چې د عامه سکټور ادارو چې کومه د رغېدنې مرسته وړاندې کوله هغه همیشه عملي نه وه او هغوی ته یې دا فکر ورکاوه چې عامه سکټور د هغوی سره تبعیض کوي.

[۲۴]  هغه ملاقاتونه چې د عامه سکټور ادارو ترتیب شوي وو ځیني وختونه پکې ترجمانان موجود نه وو یا پکې اړوندې ژبې نه وې وړاندې شوې.  مونږ ته وویل شول چې دا هغه وخت هم د ځینو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو حالت و کله چې ورسره د تروروستي برید د څېړنې پر مهال د نیوزیلینډ د پولیسو لخوا مرکې کېدلې.  اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو باید د whānau  په غړو اتکاء کړې وی چې د پولیسو پوښتنې ورته ترجمه کړي.  مونږ ته وویل شول چې دې د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو او د هغوی د whānau  د هغو غړو چې ترجمه یې ورله کوله صدمه نوره هم بدتره کوله.

[۲۵]  مونږ ته دا هم وویل شول چې د مناسبې ترجمانی نشتوالي هغه چیلنجونه نور هم پیچلي کړل د کومو سره چې ځیني خلک په دې لړ کې مخ وو چې د مرستې کوم غوراوي ورته موجود دي او څرنګه ورته لاسرسی وکړي.  په ځینو حالتونو کې ددې معنا دا وه چې خلکو د خپل whānau  په غړو اتکاء کوله چې د عامه سکټور د ادارو خبرې ورته ترجمه کړي، او مونږ ته د داسې حالتونو په اړه هم وویل شول چې ځینو احساس کاوه د هغوی د whānau  غړي بې طرف نه وو او یا ښایي ټول اړوند معلومات یې ورته نه وي ورکړي.

[۲۶]  مونږ د ډېرو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو چې مونږ ورسره ولیدل د داخلې د نوو ویزو یا هغو ویزو د چیلنجونو په اړه هم واورېدل چې هغو whānau  غړو ته ورکړی شوې وې چې نیوزیلینډ ته د هغوی د کومک لپاره راغلي وو په داسې حال کې چې هغوی خپل ژوند بېرته لاسته راوړلو کې مشغول وو.  د بېلګې په توګه، هغه ښځې چې خپل خاوندان یې له لاسه ورکړي وو او یوازنی whānau یې په بهرنیو هیوادونو کې وو، د هغوی په نظر whānau ته یې په عموم کې لنډمهاله ویزې ورکړی شوې وې چې د مرستې لپاره یې نیوزیلینډ ته راشي.  دا د هغوی په رغېدنه کې د whānau د غړو څخه د مرستې د اوږدمهاله اړتیا سره په ردیف کې نه وه.

[۲۷]  خلک یو چا لپاره ددې شرط په اړه هم اندېښمن وو چې په 15 مارچ 2019 باید نیوزیلینډ کې وی تر څو د هغې اختیاري ویزې حقدار شوي وی چې دولت د خلکو د مرستې لپاره جاري کوله.  ځینو په دې

اړه خپله نارضايي څرګنده کړه چې کوم استثنايي شرايط وو په هغې کې امتيازات نه ورکول کېدل.

**تکلارې او چارې د رغېدنې د اړتياو د مرستې لپاره په پوره ډول عملي نه وې**

[۲۸] مونږ په دې اړه ډېر څه اورېدلي چې د عامه سکټور اداري څرنګه د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو سره په ارتباط کې وې. په داسې حال کې چې خلکو د تروررستي برید نه سمدستي وروسته وضعيت کې د عامه ولس او عامه سکټور د ادارو لخوا په سخاوتمندانه حمايت تبصرې کولې، مونږ ته دا هم وويل شول چې د عامه سکټور ادارو کې همغږي او انعطاف نه وو.

[۲۹] د ځينو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو د خبرو په اورېدلو کې مونږ د هغوی په رغېدنه کې داسې تجربې واورېدلې چې د هغوی لپاره دوباره صدمه وه او/یا د اضافي سترس سبب وې. مونږ ته ويل شوي وو چې:

...كه صدمه د يو چا د خبرو كولو ناتواني رامينځته كوي، ددې ناتواني چې په صحيح طريقه خبرې وكړي، شرايطو سره ځان جوړ كړي او تاوان حس كړي، نو بيا د بريدونو نه وروسته مياشتو كې د دولتي ادارو سره ورپسې تجربې ډېرو كسانو لپاره په ډېرو طريقو د بيا صدمې رسولو يوه همغږه پروسه وه، ځكه چې دغې د ژوندو بچ شوو د رغېدنې ناتواني زياته كړې ده.

[۳۰] مونږ واوریدل چې په کومه طريقه د عامه سکټور ادارو د تروررستي برید د اغېزمنو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو سره معامله کړې هغې خلکو ته د بې وسی احساس ورکړی او هغه ستونزې يې زياتې کړې چې هغوی ورسره مخ دي.

اوسمهال، د قربانيانو يو غټ شمېر د ژوندي پاتې کېدو د انفرادي ورځنی هڅې، كه هغه په الي یا په عاطفي توګه وي، له امله د رنځ او خنډ احساس کوي. ددې لامل هغه د بې وسی طريقه ده په کومه چې خدمتونه وړاندې کېږي او د اوږدمهاله بيارغونې او بيا رغېدنې غياب دی – دا د ټولنې په بيارغونه کې د مادي مرستې غياب او همداراز د هغې مرستې چې د هغوی د عقيدې او ټولنې په اړه د معلوماتو او بيدارۍ د نشتوالي له امله د بریدکوونکي احساسات ځوابوي.

[۳۱] مونږ ته ویل شوي وو چې د قرباني د تاثير د بيانونو هدف اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو ته په مناسبه طريقه توضيح شوی نه و. ډېرو مونږ ته وويل چې د ژبې په چارو کې يې مرستې ته اړتيا لرله خو د عدليې وزارت د محکمو عملي ورته ترجمانان ورنکړل چې د جزا د پروسې په اوږدو کې ورسره مخکې نه کومک وکړي. ددې نتيجه دا شوه چې ځينې اغېزمن شوي whānau ، ژوندي بچ شوي او شاهدان په پروسه کې دخيل نه وو. يو نفر چې مونږ ورسره خبرې وکړې مونږ ته وويل چې پروسه په لومړي سر کې ددې باعث شوه چې په هغوی د تروررستي برید په منفي تاثيراتو تمرکز وشي، چې دا هغوی لپاره د توانمندۍ باعث نه و. ولې کوم بيان چې هغوی بالاخر محکمه کې ورکړو هغه د توانمندۍ باعث و، کوم چې د هغې استاندارد فورمې په اساس نه و چې هغوی ته ورکړی شوې وه.

[۳۲] د ځينو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو ذهنونه د قرباني د تاثير د بيانونو او د هغو ابتدايي بيانونو ترمينځ ګډوډ شوي وو کوم چې هغوی د تروررستي برید په اړه د پوليسو د څېړنې پر مهال د نيوزيلينډ پوليسو ته ورکړي وو.

## د عامه سکټور د ادارو ترمینځ د همغږۍ نشتوالی

[۳۳] ګڼ شمېر د عامه سکټور اداري د هغو کسانو د رغېدنې په حمایت کې دخیلې دي کوم چې په تروریستي برید کې ژوندي پاتې شوي یا هغوی چې نږدې خپلوان یې له لاسه ورکړي. اغېزمنو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو چې دې ادارو ته د خپلو چارو لپاره ورغلي، په ځانګړي ډول د پېښو د جبران شرکت (Accident Compensation Corporation)، د ټولنیزې پرمختیا وزارت، د قربانیانو حمایت، مونږ ته وویل چې د هغوی حمایت او خدمتونه په یو بل اوښتل او همداراز خالیګاوې یې لرلی او د ادارو په خپل مینځ کې همغږي نه وه.

د همغږۍ نشتوالي د پاملرنې نشتوالی پیچلی کړی دی. دا فقط یو یا دوه ملاقاتونه ندي، یا یو دوه ادارې ندي، بلکې ټولې، او په عین وخت کې.

[۳۴] دا هغه سترس زیات کړو چې د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو لخوا یې احساس کېده ځکه چې هغوی اکثر باید خپله سخته کیسه ډېر ځلې تکرار کړې وی، او ځینې اوس هم په داسې حال کې چې د تروریستي برید نه 18 میاشتې تېرې شوې دي باید دې ته ادامه ورکړي.

[۳۵] د عامه سکټور ګڼ شمېر ادارو سره معاملې کولو کې ستونزې د اړوندو ادارو خپل مینځ کې د معلوماتو د شریکولو نشتوالي او د رامینځته شوو فوق العاده اړتیاو د حل کولو لپاره د عملي حل لارو موندلو کې د زړه نا زړه کېدو فکر بدترې کړې وې.

ادارې ځانته ځانته کار کوي او یو بل سره د معلوماتو شریکولو نه انکار کوي، کوم چې قربانیان مجبوروي چې په یوه واحده اداره کې دننه د ګڼ شمېر مختلفو خلکو سره خپلې چارې ترسره کړي. واضحه شوې ده چې دولتي ادارې د 1993 د محرمیت د قانون څخه استفاده کوي چې یو بل سره معلومات شریک نه کړي.

[۳۶] ځینو دا نظر وړاندې کړو چې د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو لپاره به بهتره وی چې ټول کارونه یې د عامه سکټور د یوې واحدې ادارې سره وی.

[۳۷] مونږ ته وویل شول چې دا چیلنجونه اکثر وخت هغو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو لپاره زیات غټ وو کوم چې مخکې مهاجر او پناهنده وو.

دا خلک کم توان لري چې د [عامه] سکټور د ادارو په اوسني پیچومي سیستم کې خپله لاره پیدا کړي او یا په هغو اداري خنډونو پوه شي چې دولت سره ارتباط کوونکو افرادو لپاره موجود دي، په ګډون د هغو زیاتو تګلارو چې د قربانیانو په توګه د مختلفو حقداریو په لړ کې یې حواله ورکړی شوې ده.

[۳۸] د هغه کولتوري پوهاوي چې پورته پرې بحث شو د نشتوالي سره یو ځای، ځینو احساس کاوه چې وړاندې شوی حمایت ددې پخوانیو مهاجرو او پناهنده whānau ، ژوندو پاتې شوو او شاهدانو د اړتیاو لپاره په بهترینه طریقه مناسب نه وه.

[۳۹] یوه په کثرت سره څرګنده شوې اندېښنه دا وه چې د عامه سکټور ادارو او غیر دولتي سازمانونو د هغو کسانو چې د قربانیانو په توګه پېژندل شوي لپاره یو شریک تعریف یا د حقدارۍ معیار نه لري، او کولتوري محرکات په نظر کې نه نیسي. د بیلګې په توګه، په داسې حال کې چې د 2002 د قربانیانو د حقونو قانون د نږدې فامیل په تعریف کې "نور په کولتوري توګه پېژندل شوی فامیلي ګروپ" شاملوي، فامیلي مرستې لپاره د فامیل تفسیر اکثر وختونه زیات سخت وه.

د هسته اي فاميلي غربي مفكوره د ادارو لخوا قبوله ده او زياتره يې په كولتوري توګه مناسب او په رسميت پېژندل شوې فاميلي ډله نه قبلوي.

[۴۰] مونږ ته د هغه تاثير په اړه وويل شول چې د عامه سکټور د ادارو لخوا د فاميل د تفسيرونو له امله د خلكو په دې توان شوی و چې د دولت حمايتي خدمتونو ته لاسرسی پيدا كړي، په ځانګړي ډول د وړاندې شوو حمايتي خدمتونو په لړ كې ګډوډي او بې ترتيبي. ددې ټولو نتيجه د ځينو داسې whānau چې د تروريستي بريد نه مخكې لا د مخه په ضعيف حلت كې وو لپاره طبي، رواني او د بې كارۍ مسئلې وې.

[۴۱] مونږ همداراز واوريدل چې د قربانيانو په توګه پېژندل شوو كسانو باندې معيار په بې ترتيبۍ تطبيق شوی و. په مشخصه توګه، مونږ ته وويل شول چې په كومه كچه مرسته وړاندې شوې هغه ځينې وختونه د عامه سكټور د هغه انفرادي كارمند چې مرسته يې كوله په اتكاء توپير لرلو او دا چې ځينو خلكو په داسې حال كې چې يو ډول زيانونه يې لرله د يو بل نه مختلف خدمتونه يې ترلاسه كړي دي. ددې نه ځينو خلكو داسې درک اخيستی چې د عامه سكټور ادارې او غير دولتي سازمانونه د قربانيانو رتبه بندي يا د قربانيانو د يو لومړيتوب يو ليست جوړوي، چې په ځينو حالتونو كې رشتو كې د خفګان او ستونزو د رامينځته كېدو باعث كېږي.

[۴۲] ځينې اغېزمن شوي whānau ، ژوندي بچ شوي او شاهدان وايي چې د هغه څه چې وزيرانو يې د عام ولس په مخكې ژمنه كړې او هغه څه چې د عامه سكټور د ادارې عمله يې په انفرادي وضعيتونو كې ترسره كوي ترمينځ يووالی نشته. مونږ ته د عامه سكټور د هغو ادارو په اړه وويل شول چې د كومک ژمنه يې كړې او بيا يې نده پوره كړې، اكثر وختونه يې په پوره توګه توضيح هم نده وركړې چې ولې. ځينې وختونه د مرستې درخواستونه رد شوي وو په داسې حال كې چې اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو پاتې شوو او شاهدانو ته موقعه نه وه وركړی شوې چې نور معلومات ورته برابر كړي او يا توضيح نه وه وركړی شوې چې د رد كېدو پرېكړه ولې شوې ده.

## په كړنلاره كې د انعطاف نشتوالی

[۴۳] په داسې حال كې چې ډېرو خلكو د هغې مرستې لپاره چې ترلاسه كړې يې ده د مننې څرګندونه وكړه، مونږ اورېدلي چې په ځينو حالتونو كې د تروريستي بريد څخه اغېزمنو شوو لپاره د دولت لخوا وړاندې شوې مرسته كافي نده، يا هغه كسان چې د مرستې حقدار وو هميشه د حقدارۍ څخه ندي خبر كړی شوي. يوه اندېښنه چې مونږ ته يې څرګندونه شوې دا وه چې رغېدنې لپاره د عامه سكټور "ټولو لپاره د يو سايز" كړنلاره تطبيق شوې وه كومه چې كافي نه وه.

هر څو كه ددې ادارو نيت ښه دی، خو قربانيان د يو شمېر چيلنجونو يادونه كوي: مالي، طبي، فزيكي، عاطفي او روحي. ... د قربانيانو په راپورونو كې بيا بيا راتلونكی پيغام دادی چې دولت د هغوی په اړتياو د پوهېدلو او حل كولو لپاره ډېر ښه منظم ندی.

[۴۴] مونږ واوریدل چې زیاتره هغه حمایت چې د عامه سکټور ادارو لخوا وړاندې کېږي تمرکز يې په لنډمهاله مرسته دی، کومه چې په تروررستي برید کې د سختو اغېزمنو شوو ټولنو د روانو اوږدمهاله اړتیاو په کولتوري توګه مناسبه طریقه د پوره کولو لپاره کافي نده. د بېلګې په توګه، مونږ ته وویل شول چې د رغېدنې په اړتیاو کې د ټولنې د رغونې اوږدمهاله اقدامات شامل دي کومې چې دا ټولنې وتوانوي چې خودکفا شي او په دولت متکي نه وي. په دې کې په ځای ددې چې د هغوی کاروباري اړتیاوې د عامه سکټور د ادارو په لنډمهاله مالي مرسته متکي وي، د هغوی د کاروبارونو د حمایت لپاره د سود نه پاکې قرضې (په سود د دیني محدودیتونو په نظر کې نیولو سره) شاملېدلی شي.

[۴۵] ځینو خلکو احساس کاوه چې د پېښو د جبران شرکت په خپل سیستم کې ددې ډول یوې پېښې لپاره کافي انعطاف نلري، او د وسلې د زخمونو له امله رامینځته شوو پیچلتیاوې لکه د کارتوسو پاتې شوې چرې او عصبي زیان یې په نظر کې نه نیولې. د بیلګې په توګه، یو ژوندی بچ شوی تن د پېښو د جبران شرکت د توقعاتو او رغېدنې لپاره د ترلاسه کړې طبي مشورې ترمینځ د توپیر له امله ناامیده شوی و. دغه ژوندي بچ شوي احساس کاوه چې د طبي مشورې باوجود چې هغه کار ته د ستنېدو توان نه لرلو د پېښو د جبران د شرکت لخوا پرې فشار و چې کار ته ستون شي.

[۴۶] د عامه سکټور د ادارو په اړه همدا ډول احساسات شریک کړی شو. د بیلګې په توګه، ځینو ښځو چې خاوندان يې د یوازینې ګټه کوونکې په توګه له لاسه ورکړي وو وویل چې احساس يې کاوه د ټولنیزې پرمختیا د وزارت لخوا پرې فشار اچول کېده چې خپل د وړکتون ماشومان پاملرنې ته ورکړي او د کار لټون وکړي.

[۴۷] مونږ د مهاجرت د مسئلو په تړاو ددې اړتیا په اړه واورېدل چې د هر انفرادي whānau د شرایطو سره مربوطو پیچلتیاو په نظر کې نیولو سره د هرې قضیې پر اساس جلا جلا پرې غور وکړی شي. دا مسئله په ځانګړي ډول د صومالي ټولنې د هغو غړو سره وه کومو چې په تروررستي برید کې خپل نږدې خپلوان له لاسه ورکړي وو او یا ژوندي بچ شوي وو. مونږ واوریدل چې باوجود ددې چې د مهاجرت دفتر د تروررستي برید څخه اغېزمنو شوو د حمایت لپاره تدابیر په لاره اچولي وو، ولې د صومالي اغېزمنو شوو whānau د ځانګړو چیلنجونو سره مخ وو، د کومو لامل چې د هغوی په نظر دا و چې نیوزیلینډ د صومالیې پاسپورټ د یو اعتباري سفري سند په توګه په رسمیت نه پېژني (هر څو که هغه د عامه سکټور د ځینو ادارو لخوا د مهاجرتي اهدافو لپاره منل کېږي). دې د هغوی لپاره ستونزمنه کړه چې صومالیه نه د whānau څخه حمایت ترلاسه کړي، او په ځینو حالتونو کې whānau اوس هم د پرمختګ لپاره په انتظار کې دي.

[۴۸] ځینو دا نظر وړاندې کړو چې د نیوزیلینډ د مهاجرت دفتر کولی شول whānau لپاره یوه ځانګړې د داخلې ویزا جاري کړي چې په اوسط مهاله او اوږدمهاله اساس د مرستې د اهدافو لپاره نیوزیلینډ ته او ترې سفر وکړی شي، تر څو په غمځپلو خلکو اداري بار کم کړی شي.

[۴۹] مونږ ته په هغه حمایت کې د نیمګړتیاو په اړه هم وویل شول کوم چې اغېزمنو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو لپاره د جنایي عدالت د سیستم په اړه موجود و. دا په لاندې توګه تشریح شوی و:

> ...جنایي پروسې نه د ایستل کېدلو او په دې پروسه کې د نظر لرلو یا د کوم معنادار ګډون د احساس د ناتوانۍ څخه ژوره پراخه صدمه.

[۵۰] مونږ د نامرادئ او د هیلي او اعتماد له لاسه ورکولو په اړه واورېدل چې دلیل یې زیاتره د جنایي عدالت پروسه کې د قربانیانو د حق پېژندني نشتوالی او دا احساس و چې هغوی ته غوږ نه ایښودل کېږي. هغه مسئلې او اندېښنې چې اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو پاتې شوو او شاهدانو په دې مشخصه قضیه کې لیدلې د ځینو لخوا د هغو مسئلو د څرګندتیا په توګه لیدل شوې چې قربانیان ورسره په زیاته پراخه توګه د نیوزیلینډ د جنایي عدالت په سیستم کې مخ دي. د قربانیانو د حقونو د اصولو څرنګه چې د قربانیانو قانون کې تشریح شوي او د قربانیانو د جنایي عدالت د سیستم د تجربو، په ګډون د بیا صدمه رسېدلو، ترمینځ د توپیر څخه شکایتونه شوي دي.

[۵۱] ځینو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو مونږ ته وویل چې په یوه موقعه محکمه کې د حاضرېدو پر مهال یې د ازارول کېدو احساس کړی و ځکه یو نفر چې د محکمو نه بېرون ولاړ و په هغه وخت کې چې whānau او ژوندي بچ شوي محکمې ته ننوتل نو هغه د سپین پوستو د برترئ د نظر څرګندونه کوله.

[۵۲] ځینو خلکو مونږ ته وویل چې کله د رغېدني په اړتیاو غور کېدلو، نو د عامه سکټور ادارو د هغو کسانو د رغېدني اړتیاوې په نظر کې نه وې نیولې چې د تروورستي برید شاهدان وو ولې په هیڅ ډول په فزیکي ډول نه وو ټپیان شوي. مونږ د هغه پس له صدمې سترس په اړه واورېدل چې ډېر شاهدان ورسره مخ وو، او هغوی احساس کاوه چې نامناسب حمایت یې کېږي ځکه چې د عامه سکټور د ادارو د قربانیانو په تعریف کې نه ځاییږي.

**د عملي د آګاهۍ نشتوالی**

[۵۳] ځینو خلکو احساس کاوه چې د عامه سکټور د ادارو سره د هغو کسانو په اړه حساسیت او آګاهي نه وه چې د کومو چې یې حمایت او مرسته کول هدف و او دا چې د صدمې سره لاس او ګریوان خلکو د چارو په ترسره کولو کې بې تجربې معلومېدل. مونږ ته وویل شو چې:

...اداري او سازمانونه باید د قربانیانو د "عاطفي اړتیاو څخه زیات آګاه".

[۵۴] دا هغه وخت ځینو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو ته ښکاره شوه کله چې هغوی د عامه سکټور د ادارو سره ولیدل او حس یې کړه چې که د هغوی او یا یې د whānau حال په واضح ډول ښه نه و نو عملي غبرګون نه ښوده. ځینو خلکو ته په داسې وختونو کې د حد نه زیات معلومات ورکړی شوي وو چې هغوی یې په صحیح طریقه د پروسس کولو توان نلرلو:

...چیرته چې باید په فعال ډول غوږ کېښودل شي، هلته د معلوماتو سیلاب دی، چیرته چې باید وکالت وشي هلته نه ختمېدونکې غونډې دي.

[۵۵] دا ځیني خلکو سره ددې پوښتنې د پیدا کولو سبب شو چې آیا د عامه سکټور د ادارې عمله په صحیح طریقه روزل شوې یا ورسره حمایت کېږي چې د صدمه ځپلو خلکو کارونه سر ته ورسوي.



# دریم څپرکی:  د مسلمان په صفت نیوزیلینډ کې ژوند

[۱]  اکثره اغېزمن شوي whānau ، ژوندي بچ شوي او شاهدان چې مونږ ورسره ولیدل د سمندر پورې هیوادونو څخه نیوزیلینډ ته راکډه شوي دي.  دلته د هغوی تېر کړی وخت د یو څو میاشتو نه نیولې تر لسیزو پورې رقم رقم دی.  د ځینو لپاره، ددې معنا د نیوزیلینډ تجربه یې د کوم ځای نه چې راغلي وو هغه ځای سره د پرتلې پر اساس وه.

د قربانیانو څخه ډېر یې بین النسلي صدمه لري، د هغه څه نه چې هغوی نیوزیلینډ ته راتښتېدلي او خپل نږدې خپلوان یې له لاسه ورکړي یا یې شاته وطن کې پرېښي دي او نسبتاً کم یا هیڅ د حمایت سیسټمونه نلري چې دا ډول صدمه یې کمه کړي.

[۲] مونږ د ځینو داسې اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو سره خبرې وکړې چې په نیوزیلینډ کې زیږېدلي وو او د مسلمان په توګه غټ کړی شوي وو او د خپلې شخصي تجربې لپاره یې د پرتله کولو کومه نکته نلرله.  مونږ د داسې خلکو سره هم خبرې وکړې چې په نیوزیلینډ کې زیږېدلي او اسلام ته اوښتي دي.

### د نیوزیلینډ په اړه نظر په عموم کې مثبت دی، ولې پراخه نژادپرستي، تبعیض او اسلاموفوبیا شتون لري

[۳] اکثرو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو وویل چې نیوزیلینډ او نیوزیلینډیانو سره د هغوی تجربې د 15 مارچ 2019 د تروریستي برید نه مخکې په عموم کې مثبتې وې.  هغوی وویل نیوزیلینډ په عموم کې امن او خوندي احساسېده، او هیڅکله یې دا فکر نه و کړه چې دا ډول تروریستي برید به دلته رامینځته شي.  هغوی احساس کاوه چې ډېر نیوزیلینډیان ډېر قبلوونکي او دوستانه خلک وو.  مونږ د دوستانه او صمیمي ګاونډیانو په اړه واورېدل.  مونږ د داسې کارځایونو کیسې واورېدلې چې د خلکو دیني اعمالو او اړتیاو ته ځای ورکوي، هغوی ته اجازه ورکوي چې د جمعې د لمانځه لپاره رخصتي واخلي او د کاري ساعتونو پر مهال د لمانځه اسانتیاوې ورکوې.

[۴]  ددې مثبتو تجربو باوجود، نږدې هر هغه تن چې مونږ ورسره ولیدل په شخصي توګه د نژاد پرستۍ د پېښو یا تبعیض سره مخ شوي وو یا یې داسې څوک whānau یا دوستان پېژندل چې ورسره مخ شوي وو. یو ادراک چې مونږ سره شریک کړی شو دا و چې دغه 15 مارچ 2019 تروریستي برید:

...د عامو څخه په دې کې توپیر لري چې بریدونو ته د مسلمانانو د ورځني ژوند د استثناء په ځای د اوج په نظر کتل کېږي.

[۵]  له دې امله چې حجاب د عقیدې یوه واضحه ښکاره کېدونکې علامه ده، مسلماني ښځې اکثر ویني چې د سړو نه هغوی زیات د نژاد پرستۍ او تبعیض سره مخ کېږي.  ډېرو حجاب والا ښځو چې مونږ ورسره خبرې وکړې وویل چې په کوڅه کې د آزار سره مخ شوې او ځینو خلکو وویل چې د خپلو هغو whānau او دوستانو په اړه چې حجاب اغوندي اندېښمن دي.  ځینو ښځو په خپل حجاب کې وویل چې ځانته د وتلو نه د زیاتې وېرې احساس کوي.  هغوی مونږ ته وویل چې د تروریستي برید نه وروسته هغوی عامه ځایونو ته د تللو او هغو شیانو کولو چې مخکې یې د ورځني ژوند برخه وه نه ډېده کوله، لکه خپل ماشومان پیاده ښوونځي ته بوتلل او یا مابنام کې پیاده ګرځېدل.  یوې ښځې مونږ ته وویل چې اوس کله بېرون عامه ځایونو کې وي نو د حجاب لپاره د خولۍ والا بنیان اغوندي.

[۶]  ځینو موروپلار مونږ ته د هغه تنګولو یا ځوروونکو تبصرو په اړه وویل چې ماشومان یې ورسره په ښوونځي کې او یا هغه وخت چې په ګاونډ کې وو مخ شوي وو.  ډېر هغه خلک چې مونږ ورسره خبرې وکړې نژاد پرسته او کرکجنې تبصرې پرې شوې وې چې په موټر چلوونکو یې په خوا کې تېرېدو کې پرې په زوره کړې وې.  د ځینو خلکو نظر و چې دا ډول تبصرې د اسلامي عقیدې په اړه د سوء تفاهم یا غلط درک له امله دي، ولې بیا هم ورته دغه ځوروونکې وې.

[۷]  ځینو خلکو وویل چې کار کې او یا د کار موندلو په هڅو کې د تبعیض سره مخ شوي دي.  خلکو ددې نه خپل نارضایي وښودله چې باوجود ددې چې د کومو وظیفو لپاره درخواست ورکوي هغې لپاره لوړ تعلیمي استعداد لري ولې بیا هم د کار په موندلو نه توانیږي.  هغوی ددې سبب د روایتي انګلیسي نومونو نه لرل وښودلو.  ځینو چې د پام وړ شمېر داسې وظیفو لپاره یې درخواستونه ورکړي وو د کومو لپاره چې یې ښه تعلیمي استعداد لرلو وویل چې ددې لامل تعصب و چې ډېر محدود شمار د مرکې وړاندیزونه یې ترلاسه کړي وو.  مونږ د یوې ښځې نه واورېدل چې یوازې هغه وخت ورته د مرکې لپاره درخواستونه راتلل پیل شول کله چې یې د وظیفې لپاره درخواستونو کې خپل نوم یو روایتي انګلیسي نوم ته واړولو.

[۸]  یو څو کسانو چې مونږ ورسره ولیدل وویل چې د نژادپرستۍ د پېښو راپور یې د نیوزیلینډ پولیسو ته ورکړی و، اما احساس یې نه کاوه چې کومه مثبته نتیجه به ورکړي.  یا هغه راپور په مثبت ډول نه و ثبت شوی، او یا هغوی احساس کاوه چې د نیوزیلینډ پولیسو دغه پېښه جدي نه اخیستله. هغوی د نیوزیلینډ د پولیسو نه بېرته څه وانهورېدل چې ددغه راپور په ځواب کې یې څه کړي وو.  دې ځینو لپاره د نیوزیلینډ په پولیسو اعتماد اغېزمن کړی و، په دې باره کې چې یې شک رامینځته کړی و چې د راپور ورکولو په صورت کې به د نیوزیلینډ پولیس کوم اقدام وکړي.  دا ډول تجربو خلک بې حوصله کول چې نورې اندېښنې د نیوزیلینډ د پولیسو توجو ته وړاندې کړي.  مونږ ته ویل شوي وو چې:

... دواړه اغېزمن شوي جوماتونه موافقه کوي چې په جوماتونو کې او خواوشا یې د شکمن چلند د ګڼ شمېر راپورونو باوجود پولیسو ناکافي توجو کړې... په ټولنه کې د خلکو لپاره دا د هغوی د حفاظت په وظیفه کې سستي ګڼل کېږي، او همداراز ددې خبرې په منلو کې ناکامي چې مسلمانان د تبعیض، د قربانۍ د بکره جوړېدو، او همداراز د ښې نظریې د افراطیت او د سپین پوستي برترۍ د تهدیدونو سره مخ دي، او په همدې دلیل باید د پولیسو د ځانګړې پاملرنې، غبرګون او بیدارۍ سبب شوی وی.

[۹]  په نورو حالتونو کې خلکو وویل چې د نژادپرستۍ د پېښو راپور ورکولو باندې یې ځان پعذاب نکړو ځکه چې ټولنه کې یې نور خلک لیدلي وو چې داسې یې کړي خو کومه مثبته نتیجه یې نه وه ورکړې.  یو تن مونږ ته ددې څرګندونه په لاندې ډول وکړه:

... دا مهال خبره د دغه ارتباط نده ځکه چې مونږ احساس لرو چې مونږ د ټولنې په صفت دویمه درجه یو. هغوی مونږ ته دا احساس راکوي، او پولیس مونږ ته دغه اعتماد نه راکوي.  داسې یوازې ډېر وختونه دي چې ته چاته ورتلل غواړې که هغوی درته د بې اعتمادۍ احساس درکوي.  یو وخت داسې راځي چې نور په هغوی اعتماد نه کوې او احساس کوې چې داسې شیان راپېښېږي، پولیسو ته ورتلل څه ګټه لري؟  دغه وخت خبره ډېره خطرناکه کېږي ځکه چې پوهېږې چې داسې شیان راپېښېږي ولې ستا او د پولیسو ترمینځ ددغې احساس او بې اعتمادۍ له امله ستا او د مقاماتو ترمینځ دغه غېټه خلا رامینځته کېږي او ته د هغو خلکو نه فاصله اخلې کوم چې په اصل کې ستا حفاظت کولی شي او ددغې مخنیوی کولی شي.  نو د هغوی ترمینځ دغه اعتماد څنګه جوړولی شې او دغه خلا راکمولی شې چې دغه د دویمې درجې د تبعې احساس ونلرې؟

[۱۰] ځینو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو وويل چې د 15 مارچ 2019 نه راپېښخوا د هغوی د نيوزيلينډ تجربې بدلې شوې دي. هر څو که ځينو خلکو وويل چې په نيوزيلينډ کې اوس هم خوندي احساس کوي، نورو وويل چې مخکې نه د کم خونديتوب احساس کوي. د خونديتوب په اړه اندېښنې ځينو whānau لپاره ددې سبب شوې چې ټولنو لپاره د دروازو، په خپلو استوګنځايونو کې د زيات امنيت او څارنې او د نيوزيلينډ پوليسو لپاره ددې اړتيا احساس وکړي چې مسلمانو ټولنو سره د اصلي ارتباطاتو د جوړولو لپاره زيات فعال شي. ځينو خلکو وويل چې د 15 مارچ 2019 د تروريستي بريد نه راپېښخوا يې د نژادپرستۍ د پېښنو راپورونه د نيوزيلينډ پوليسو ته ورکړي او احساس يې کاوه چې جدي اخيستل شوي دي.

## د تعصب اغېز (په ناخبرۍ کې يا بل ډول)، په ځانګړي ډول رسنيو کې

[۱۱] د ډېرو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو چې مونږ يې خبرې واورېدلې لپاره د 15 مارچ 2019 تروريستي بريد نااټکله نه وه. مونږ واورېدل چې:

...ددغې ورځې د پېښنو د راتللو پيشګويي دومره ډېرو کيسو او نښو نښانو کړې وه، کومې چې ټولې واضحې وې او په کومو ټولو چې د هغوی لخوا سترګې پټې شوې وې چې د اقدام کولو ځواک يې لرلو.

[۱۲] مونږ ته وويل شول چې دا د عامه سکټور د ادارو په ګډون د يوې داسې جامعې په سياق و سباق کې رامينځته شوه کومه چې په کثرت سره اسلامي ټولنو او په زياته پراخه توګه کولتوري تنوع سره سوء تفاهم لري. خلکو احساس کاوه چې د تروريستي بريد نه مخکې او وروسته اسلامي ټولنو سره د چارو په ترسره کولو کې د عامه سکټور ادارو کې تعصب په ناآګاهانه توګه هر ځای کې موجود دی.

په داسې حال کې چې دا د ټولنې نه بهر نورو لپاره ښايي څرګند نه وي، د اسلاموفوبيا د عمومي مباحثې او د هغو مشخصو طريقو په کومو چې اسلامي ټولنه دولتي ادارو سره خپلې چارې ترسره کوي ترمينځ تړون د قربانيانو د کيسو نه روښان دی.

[۱۳] ځينو خلکو ليدلي چې په ځانګړي ډول دې وروستيو کلونو کې ټولنيزو رسنيو کې نژادپرستانه تبصرې زياتې شوې دي. مونږ يو عمومي غږ واورېدلو چې آنلاين تهديدونه بايد زيات جدي واخيستل شي، او ددې بايد څېړنه وشي. مونږ ته د يوټيوب او فيسبوک پاڼې راوښودل شوې کومې چې د اسلاموفوبيک، نژادپرستانه او نورو کرکجنو احساساتو پر اساس جوړې شوې وې، او هغوی لپاره چې راپورولې يې ډېرې د اندېښنې وړ وې. دغه ويډيوګانې او پاڼې ټولې په نيوزيلينډ کې د اوسېدونکو خلکو لخوا وې. په ځينو حالتونو کې د نيوزيلينډ پوليسو ته د افراطي منځپانګې خبر ورکړی شوی و، ولې خلک وينې چې د ټولنيزو رسنيو د ادارو لخوا ددغه ډول منځپانګې په ليرې کولو کم اقدام کېږي. ځينو خلکو احساس کاوه چې، په پرتله کې، هغه ويبسايټونه چې اسلامي افراطي منځپانګه لري زيات زر حذف کېږي.

موږ احساس کوو چې موږ د ټولنې په...
توګه د دویمې درجې یو.  هغوی موږ ته دا
احساس راکوي، او موږ د نیوزیلینډ د
پولیسو څخه دغه اعتماد نه ترلاسه کوو.
داسې یوازې ډېر وختونه دي چې ته چاته
ورتلل غواړې که هغوی درته د بې
اعتمادۍ احساس درکوي.

[۱۴] اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو پاتې شوو او شاهدانو مونږ سره خپل دا باور شریک کړو چې د نیوزیلینډ او نړیوال تلویزیوني او چاپي رسنۍ مسلمانانو سره تعصب لري. مونږ ته وویل شول چې داسې ښکاري تعصبي راپورونو کې د امریکا متحده آیالاتو کې د 11 سپتمبر 2001 د تروریستي بریدونو څخه راپدېخوا د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. ډېرو د رسنیو ددې رول په اړه نارضایي وښودله چې د مسلمانانو او اسلام په اړه غلط فهمیانې خوروي، او تبصره یې وکړه چې د هغوی راپورونو په نیوزیلینډ او ټوله نړۍ کې د مسلمانانو ضد نظرونو زیاتولو کې خپله برخه کار کړی دی. مونږ ته ویل شوي وو چې:

...رسنیو د مسلمانانو نوم بد کړی او خراب کړی دی، یا یې لږ تر لږه د ځوابې انتقادي نظر په ورکولو کې ناکامی سره په دې خرابولو سترګې پټې کړې دي، او ددې نتیجه دغه ورځنۍ نژادپرستي شوې ده چې هغوی ورسره مخ دي.

[۱۵] مونږ د ځینو خلکو په ورځني ژوند د رسنیو د منفي راپورونو د ریښتیني تاثیراتو په اړه واورېدل، چې په هغې کې د اسلام په اړه غلط فهمی د داسې نژادپرستانه طعنو په صورت کې راتلل شامل وو چې خلکو ته په کوڅو کې ورکول کېدلې. د کرایسټ چرچ په اسلامي ټولنه کې د ځینو لپاره دغه طعنې هغه وخت بدترې شوې کله چې په 2014 کې رسنیو کې کرایسټ چرچ کې د راډیکال اسلام په اړه یوه کیسه او داسې تورونه خپاره شوه چې د کرایسټ چرچ په یو خاص جومات کې یو څوک راډیکال شوی و. د رسنیو دې کیسې د کرایسټ چرچ په اسلامي ټولنو د پام وړ او روان اغېز کړی دی، چې ددغو راپورونو په ورپسې کلونو کې بیا په جومات کې د مداخلې، آزار او غلا ډاکو پېښې رواني وې. په تروریستي برید کې یو بچ شوي تن چې کله 2014 کې د رسنیو د هغې کیسې په اړه فکر کاوه نو وې ویل چې د هغه وخت نه راپدېخوا یې خپل ځان لپاره جومات کې په زیاتېدونکې ډول د خوندیتوب او امنیت په مسئلو تمرکز کړی و.

[۱۶] داسې یو احساس هم و چې رسنیو کې د هغه تن خاکه چې د 15 مارچ 2019 تروریستي برید یې ترسره کړی و تعصبي ده. د رسنیو لیکنو کې دا پوښتنه شوې وه چې یو "ښه هلک" څنګه "بد کېدلی" شو؟ اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو احساس کاوه چې که تروریستي برید د یو مسلمان لخوا ترسره شوی وی، نو رسنیو به د هغه تن خاکه په مختلفه طریقه وړاندې کړی وی او ددې احتمال به نه وی چې په هغه یې د ښه تن په توګه تمرکز کړی وی.



## ځلورم ځپرکی: د هغه فرد په اړه راپورته کړی شوې پوښتنې او د عامه سکټور ادارو ته د تروریست په اړه څه معلوم وو

[۱] ځینو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو چې مونږ ورسره ولیدل مونږ نه یې د هغه فرد په اړه پوښتنې وکړې یا یې خپل نظرونه شریک کړل کوم چې تروریستي برید ترسره کړی و. د هغوی په ګومان دغه فرد د 15 مارچ 2019 د تروریستي برید نه مخکې مسجد النور او لینووډ اسلامي مرکز څخه لیدلي وو. هغوی یو سړی تشریح کړو، چې د هغوی په نظر دغه فرد و، کوم چې مسجد النور کې د امام په ګډون ګریزاني مکالمې کولې او وې ویل چې په مسجد کې د هغه اعمال، په ګډون د هغو چې د لمانځه په وخت کې یې کول، داسې ښکارېدل چې عادي جومات ته راتللو والا ندی.

[۲] اکثره اغېزمن شوي whānau ، ژوندي بچ شوي او شاهدان په دې نه پوهېدل چې دغه فرد څرنګه په دې وتوانېده چې تر دې حده د فعالیتونو د تیاری او پلان جوړوني کار ترسره کړي او کشف نشي. د هغوی په ګومان به هغه د تروریستي برید د ترسره کولو لپاره خامخا د دوستانو یا آنلاین ډلو څخه حمایت ترلاسه کړی وي. هغوی دا ګومان هم کوي چې دغه تروریستي برید لپاره لازمې پلان جوړونې ته په کتلو سره به خامخا د یو نه زیات کسان ښکې ککړ وي، او ځینو خلکو وویل چې د تروریستي برید پر مهال یې هغه فرد نورو کسانو سره په خبرو کولو اورېدلی و.

[۳] هغو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو پاتې شوو او شاهدانو چې مونږ سره یې خبرې وکړې ددغه فرد چې تروریستي برید پرې ثابت شوی په اړه مشخصې پوښتنې لرلې او غوښتل چې د شاهي کمسیون په راپور کې یې ځوابونه ورکړی شي، په ګډون د:

- آیا هغه د تروریستي برید د ترسره کولو لپاره بلاواسطه یا بالواسطه مرسته لرله؟
- هغه څنګه تروریستي برید لپاره د ضروري دغو ټولو وسلو او تجهیزاتو د اخیستلو وس لرلو؟
- هغه څنګه د مقاماتو د نظر د جلبولو نه غیر دومره مهمات راغونډ کړي وو؟
- دې خبرې ته په کتلو سره چې هغه داسې هیوادونو ته سفر کړی و چې د سفر په اړه یې اخطارونه ورکړی شوي وو، نیوزیلینډ ته په راننوتلو هغه د مهاجرت د دفتر لخوا ولې په زیات تفصیل سره نه و معاینه شوی؟
- هغه ته مسجد النور یا لینووډ اسلامي مرکز ته ننوتلو لپاره "بهترین وخت" څنګه معلوم و؟

[۴] ددې او نورو پوښتنو چې د ټولنې لخوا د هغه فرد او په دې اړه چې د عامه سکټور ادارو ته څه معلوم وو راپورته شوې وې ځوابونه زمونږ په راپور کې ورکړی شوي دي.



# پینځم څپرکی: د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو لخوا وړاندې شوې حل لارې

[۱] اغېزمنو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو سره زمونږ د ملاقات اساسي هدف هغوی ته غوږ اینودل وو. برسېره پر دې چې هغوی خپلې شخصي تجربې او اندېښنې شریکې کړلې، ډېرو په دې اړه هم وړاندیزونه راکړل چې د هغوی لخوا راپورته کړی شوې ستونزې څنګه حل کېدلی شي.

[۲] مونږ ته ویل شوي وو چې ځینې اغېزمن شوي whānau ، ژوندي بچ شوي او شاهدان په پروسو کې ګډون کولو نه مخکې رغېدو لپاره وخت ته اړه لري، په ګډون د څېړنې د شاهي کمیسیون او (هغه څه چې د هغه فرد محاکمه به وي. ددې ډول پروسو د وخت سره تړلې نوعیت له امله به ځینې پکې په ګډون کولو وتوانېږي، باوجود ددې چې دا به د هغوی د شخصي رغېدنې د قوت برخه وي. یو وړاندیز چې مونږ ته راوړاندې کړی شو دا و چې د بېرته رغېدنې یوه داسې اوږدمهاله عدالتي پروسه جوړه کړی شي چې وخت سره تړلې نه وي. دا پروسه به د اغېزمنو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو سره یو ځای طراحي کړی شوې وي تر څو د هغوی رواني پیچلې اړتیاوې حل کړي. دا ډول پروسه به قربانیانو ته د احتساب، معالجې، او د خپلو تجربو د غږ پورته کولو او توجیه غوښتلو موقعه په لاس ورکړي. دا پروسه چې د وخت محدودیت ونلري به هغه کسان چې حمایت ته اړتیا لري په دې وتوانوي چې هغوی لپاره مناسبو وختونو کې ورسره تماس او تړون وشي چې په دې طریقه به هغوی په خپله رغېدنه کې قوي کړي.

[۳] مونږ ته وویل شول چې په دې اړه باید یوه شاهي څېړنه ترسره شي چې د تروررستي برید په وړاندې د شوي اقدام یوه خپلواکه ارزونه وکړي، په ګډون د نیوزیلینډ د پولیسو او روغتونونو ته د اقدام، تر څو د ټولو بې ځوابه پوښتنو ځوابونه ورکول یقیني شي.

[۴] مونږ د ځینو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو پاتې شوو او شاهدانو او د Muslim Community Reference Group د غړو څخه زمونږ د راپور په وړاندې د بدلونونو راوستلو او د سپارښتنو د عملي کولو په لړ کې د دولت او عامه سکټور د ادارو لخوا د شفافیت د اهمیت په اړه واورېدل. مونږ ته وویل شول چې دا خبره باید یوازې ټولنو ته پرې نښودل شي چې په دې راپور د عمل کولو یقیني کولو لپاره د دولت او عامه سکټور د ادارو احتساب وکړي. د بېلګې په توګه، ځینو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو وړاندیز وکړو چې د تروررستي برید د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو او د شاهي کمیسیون د سپارښتنو لپاره یو مسوول وزیر باید وي، د Pike River Re-entry لپاره مسوول وزیر په څېر، او دا چې د عامه سکټور ټولې ادارې به دغه وزیر ته راپور ورکوي.

### په جوماتو کې زیات امنیت

[۵] ځینو خلکو په مسجد النور او لینووډ اسلامي مرکز او نورو د اسلامي غونډو ځایونو کې په روانه توګه د زیات امنیت د اړتیا په اړه خبره وکړه. کومې امنیتي حل لارې چې وړاندیز شوې په هغوی کې د نیوزیلینډ د پولیسو موجودګي شامله ده، ددې خبرې په یقیني کولو سره چې د جوماتو د دخول دروازې

ښکاره نه وي، د امنيتي کامرو نصبول او نور امنيتي تدابير. ددې سرچينې بايد د حکومت لخوا ورکړې شي. مونږ ته دا نظر هم وړاندې کړې شو چې امنيت بايد د ديني عبادت په ټولو ځايونو کې بهتر کړې شي، يوازې جومات کې نه.

## بشري حقونو، تنوع ته غاړه ورکول او د زيانمن افراطيت تاثيرات کمول

[۶] نږدې هر تن چې مونږ ورسره وليدل باور يې لرلو چې د نژادپرستۍ او تعصب له مينځه وړل به نيوزيلينډ زيات خوندي کړي او په راتلونکي کې به د تروريستي بريد د مخې نيولو کې کومک وکړي. هغوی وويل چې د نژادپرستۍ له مينځه وړلو کليد د نيوزيلينډ په سراسر ټولنه کې نژادپرستۍ په اړه اګاهۍ کې ده.

ددې نفرت جرړه بايد وخوځول شي. نژادپرستي د رسنيو په شاملولو له مينځه وړل کېدی شي. بايد سوله ييز پيغامونه خپاره کړی شي.

[۷] ځينو خلکو نظر وړاندې کړو چې نيوزيلينډ بايد د نفرت جرمونو او نفرتي تقريرونو لپاره زياتې سختې سزاوې ولري. يو څو کسانو نظر وړاندې کړو چې د 1993 د بشري حقونو په قانون کې د نفرتي تقريرونو تعريف بايد پراخه کړی شي او په مذهبي بنيادونو خلکو سره دښمني پکې شامله کړی شي.

[۸] خلکو په دې اړه مونږ سره يو شمېر فکرونه شريک کړل چې څنګه خلکو ته د متنوع کولتورونو او دينونو په اړه او د نيوزيلينډ ټولنه کې د تنوع د امنيت په اړه زده کړه ورکړی شي. په دې فکرونو کې شامل دي:

- په دې اړه معلومات ورکول چې څنګه د نژاد پرستانه پېښو راپور ورکړی شي؛
- د نژاد پرستۍ ضد کمپاينونه؛
- د متنوع کولتورونو او دينونو په اړه د عامه ولس د اګاهۍ کمپاينونه؛
- د ښوونکو روزنه پراخول او د ښوونځي نصاب کې د کولتورونو او دينونو د تنوع په اړه تعليم شاملول؛
- په ټول نيوزيلينډ کې جوماتونو ته بلنه ورکول چې د ټولنيزو غونډو کوربه توب وکړي؛
- سيمه ييز مقامات د ځينو خاصو اسلامي ورځو لکه اختر د لمانځلو لپاره عامه غونډې سپانسر او تنظيم کړي څنګه چې د ډېرو نورو کولتوري غونډو د لمانځلو لپاره کېږي لکه ماتاريکي، چينايي نوی کال او ديوالي؛ او
- د اسلامي ټولني رهبرانو ته بلنه ورکول چې د اسلام په اړه د عامه بحث مشري وکړي او په بين المذهبي ډايلاګ کې زيات دخيل شي.

د دې نفرت جرړه باید وخوځول شي. نژادپرستي د رسنیو په شاملولو له مینځه وړل کېدی شي. باید سوله ییز پیغامونه خپاره کړی شي.

## د نیوزیلینډ ملي امنیتي سیستم کې بهتریانې

[۹] ځینو خلکو چې مونږ ورسره ولیدل د نیوزیلینډ د ملي امنیت په سیستم کې بهتریانې وړاندیز کړلې. هغوی احساس کاوه چې امنیتي اداري باید زیاتې فعاله وي. په مشخصه توګه، هغوی دا نظر وړاندې کړو چې امنیتي اداري باید په ټولنیزو رسنیو کې د مسلمانانو ضد، افراطي ښي نظریې، او نورو ضعیفو ټولنو ته د تهدیدونو نظارت زیات کړي، او دا چې هغوی باید آنلاین تهدیدونه زیات جدي ونیسي.

د اسلامي عقیدې د روحاني اهدافو او فلسفې په اړه غلط فهمیانې او ډار د ډېر وخت نه حتا په هغو سوله ییزو او کولتوري توګه متنوع ټولنو کې موجودې دي چیرته چې اسلام یو اقلیتي دین دی. دا ډول غلط فهمیانې د سپین پوستو افراطیانو چې ځان برتر حسابوي د بریدونو ایدیولوژیک اساس جوړوي. له دې امله ددې ډول غلط فهمیانو لپاره په استثنایي ډول مهمه ده چې اجازه ورنکړی شي چې زیاتې د سیستم په مرکز کړنلارې عمومي مسئلې بدترې کړي.

[۱۰] ځینو خلکو د نیوزیلینډ په سراسري استخباراتي ټولنه کې عملي لپاره د زیاتې روزنې سپارښتنه وکړه تر څو چې رامینځته کېدونکې تهدیدونه زر وپیژني.

[۱۱] مونږ ته وویل شول چې د عامه سکټور اداري باید د کولتوري تخصص په ګډون مناسب تخصص جلب و جذب او جوړ کړي تر څو په دې شیانو پوهه شي:

- هغه چیلنجونه چې صدمه ځپلي خلک او ټولنې ورسره مخ دي، یا کومې د رغېدنې اړتیاوې چې لري؛
- هغه چیلنجونه چې خلک د صدمه ځپلو خلکو او ټولنو سره د کار پر مهال ورسره احتمالاً مخ کېدلی شي او ددې خبرې د یقیني کولو اړتیا چې د ترجمانۍ او ترجې کومک موجود وي؛
- هغه خلک چې تروریزم سره مخ شوي دي معلومات احتمالاً څنګه ترلاسه کولی او پروسس کولی شي؛

حمایتي ادارو لپاره مهمه ده چې پوه شي چې قربانیانو لپاره په هغه وخت کې د معلوماتو پروسس کول سخت کېدلی شي کله چې د عاطفي خفګان د احساس سره مخ وي. صدمه په ګڼ شمېر طریقو د معلوماتو په پروسس کولو اغېز کولی شي.

- د ضعیف حیثیت والا ټولنو سره څنګه د اعتماد پر اساس، د همکارۍ ارتباطات جوړ کړی شي؛ او

اغېزمنو ټولنو ته په فعالیت سره غوږ ایښودل، حمایت یې کول او په مناسبه توګه تماس او تړون - چې دا درېواړه د یو بل نه جلاکېدونکې ندي - قطعاً مهم دي تر څو، په بدل کې یې هغوی ته د مناسبو خدمتونو او مرستې وړاندې کولو توان پیدا کړی شي

- د رواني رغېدنې د اړتیاو مرسته تر څو د ټولنې د تماس او تړون فعالیتونه پکې راونغښتل شي.

په پولیسو غږ کېږي چې د ظاهري او غیر فعال حضور په ځای ټولنې سره د پاملرنې او بیدارۍ د اصلي

ارتباط په جوړولو کې فعال شي، او د ټولنې اړتیاو او حفاظت ته توجو وکړي.

[۱۲] مونږ ته د رغېدنې د کړنلارې ددې اهمیت په اړه وویل شول چې مرکز یې انسان (په زیاته مشخصه توګه، مرکز یې د ژوندو بچ شوو سلامتي) وي. ددې یو مهم عنصر دادی چې ژوندو بچ شوو ته د هغوی د خبرو د اورېدلو لپاره فرصتونه او ځای ورکړی شي، او دا چې هغوی د اوږدمهاله حل لارو په جوړولو کې دخیل وي.

دا د قربانیانو د غږونو جیګولو لپاره ډېر زیات مهم دي. قربانیان د کلیدي مسئلو د حل لارو لپاره جدي احساسات او همداراز فکرونه لري ولې دې کې ستونزو سره مخ دي چې دې فکرونو ته یې غوږ ونیول شي.

[۱۳] مونږ ته وویل شول چې یوه داسې کړنلاره چې مرکز یې انسان وي تمرکز به یې زیات د ستونزې به حل کولو او د حل لارو په موندلو وي او اساساً به یې تمرکز په راتلونکي وي. ددې متبادل، هغه کړنلاره چې مرکز یې سیسټم دی کومه چې اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو تجربه کړې ده ددې په ځای یې تمرکز د خطر او ستونزو په وړاندې غبرګون باندې دی، نه د هغو اړتیاو په وړاندې چې دغه سیسټم یې باید حمایت وکړي.

[۱۴] ددې سپارښتنه هم وشوه چې د عامه سکټور اداري باید د خپل چمتووالي د پلان جوړونې د برخې په توګه د ټولنو د اوږدمهاله رغېدنې د اړتیاو لپاره پلان جوړ کړي، او دا چې دا پلانونه دې د انعطاف او تغییر وړ وي. د بیلګې په توګه، په کومه طریقه چې ژوندی بچ شوی تن تعریف شوی ښایي د هغې پېښې کومې نه چې ټولنې بېرته رغېږي د نوعیت پر اتکاء فرق ولري. په همدې توګه، مختلفې ټولنې اکثر د whānau درجه بندي په بېلابېلو طریقو کوي او دا باید په نظر کې ونیول شي.



# شپږم څپرکی: نور معاملات چې د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو پاتې شوو او شاهدانو لخوا راپورته کړی شوي

[۱]  کومه کړنلاره چې مونږ اغېزمنو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو سره ملاقاتونو لپاره غوره کړه، په ځانګړي ډول چې هغوی د ملاقاتونو مشري کوله او په هغه څه یې بحث کاوه چې مونږ سره یې پرې بحث کول غوښتل، معنا یې دا وه چې مونږ ته د ډېرو خلکو لخوا داسې فکرونه او نظرونه هم راکړی شول چې زمونږ د حوالې د شرطونو نه بهر وو.

[۲]  څنګه چې مخکې دې سند کې یادونه شوې، زمونږ د حوالې شرایط په مونږ لازمي کوي چې د نیوزیلینډ ولس ته ډاډ ورکړو.  په همدې خاطر مونږ فکر کوو دا مهمه ده چې د هغو مسئلو پراخوالی ثبت کړو کومې چې د هغو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو پاتې شوو او شاهدانو چې مونږ ورسره ولیدل لپاره مهمې وې.

### د تروروستي برید په وړاندې د نیوزیلینډ د پولیسو غبرګون

[۳]  مونږ د تروروستي برید په اړه د غبرګون په اړه ډېرو خلکو نه واورېدل، په ګډون د هغو مشاهدو په اړه چې اقدام کوونکي څومره ښه مجهز وو چې د تروروستي برید په وړاندې اقدام وکړي.  دا واحده مسئله وه چې اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو سره زمونږ د ټولو ملاقاتونو پر مهال په زیات کثرت سره راپورته کړی شوه.

[۴]  هغو خلکو چې مونږ ورسره ولیدل د هغه وخت په اړه د غوصې، غم، نارضایی او اندېښنې څرګندونه وکړه په کومه کې چې د نیوزیلینډ پولیس مسجد النور ته دننه ورسېدل او د نیوزیلینډ د پولیسو لخوا د پېښې د ځای د حصار دننه یې عاجلو طبي خدمتونو ته د داخلېدو اجازه ورکړه.  نړدې هر تن چې مونږ ورسره ولیدل ګومان کاوه چې که چیرته ټپیانو ته زر طبي تداوي رسول شوې وی نو د زیاتو کسانو ژوند به ژغورل شوی وی.

داسې حس کېږي چې، باوجود ددې چې د ټولنې غړو فعاله هڅه کړې وه چې د ګډوډۍ د مخنیوي لپاره واضحه او دقیقې لارښوونې ورسوي، خو پولیسو د دقیق او مناسب اقدام په کولو کې واضحه ناتواني ښودلې وه.

[۵]  ډېر خلک چې مونږ یې په دې اړه خبرې واورېدلې په دې اړه هم ناراضه وو چې د نیوزیلینډ پولیسو په تېزۍ سره اقدام نه و کړی چې د اسلامي ټولنې د نورو جوماتونو او د راغونډېدو د ځایونو حفاظت وکړي.  هغوی ګومان کوي چې که چیرته په لینووډ اسلامي مرکز کې د نیوزیلینډ پولیس په تېزۍ سره ځای پر ځای شوي وی نو د ځینو خلکو ژوند ژغورل کېدلی شو.  مونږ ته وویل شول چې ځینو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو خپلې تجربې په هغو هیوادونو کې چې هغوی ترې نیوزیلینډ ته راغلي دي ته ورته د ټوپکي تاوتریخوالي وضعیتونو یا تجربو سره پرتله کړي، چیرته چې اداري داسې تشریح شوي چې

...د وضعیت عاجلتیا ډېر زیات پراخه اقدام او توجو کوي.

[۶]  مونږ په خپل hui  د 8 نومبر 2020 په غونډه کې چې اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو سره وه وویل شوو چې هغوی اوس هم د تروروستي برید په وړاندې د نیوزیلینډ د پولیسو او روغتونونو د اقدام په اړه ناځوابه پوښتنې لري.

[۷]  ډېرو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو وویل چې د پولیسو پخواني کمیشنر،

مایک بوش، د تروررستي برید په وړاندې د نیوزیلینډ د پولیسو د اقدام په اړه د یوې خپلواکې بیاکتنې اعلان کړی و. ډېرو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو د نارضایۍ احساس کاوه چې د دغې بیاکتنې نتیجې تر اوسه پورې علني شوې نه وې په داسې حال کې چې تر اوسه پورې باید شوې وی. ځینو اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو احساس کاوه چې نتیجتاً یې د نیوزیلینډ په پولیسو اعتماد نور هم کم شو. ځیني اغېزمن شوي whānau ، ژوندي بچ شوي او شاهدان په دې اړه شکمن وو چې بیاکتنې کې به یو شمېر داسې غلطیانې معلومې شوې وي چې د نیوزیلینډ پولیس نه غواړي د هغې په اړه شفاف واوسي.

**د جنایي عدالت د سیستم سره د فرد تعامل**

[۸] ځیني خلک چې مونږ ورته غوږ ایښی و په دې اړه اندېښمن وو چې په نیوزیلینډ کې د زندان شرایط د دغه نفر لپاره کافي سخت ندي. یو څو کسانو دا نظر وړاندې کړو چې هر هغه څوک چې تروررستي برید پرې ثابت شي نو اعدام به یې مناسبه جزا وي.

[۹] یو څو کسانو په دې اړه اندېښنې او نارضایي شریکه کړه چې دغه فرد په داسې حال کې چې زندان کې دی توانېدلی دی چې همفکره خلکو سره خط و کتابت وکړي. هغوی پوښتنه وکړه چې ددې اجازه څنګه ورکول کېدلی شي او د زندانونو د وزارت څخه یې د احتساب غوښتنه وکړه. مونږ ددې اړتیا په اړه واورېدل چې افراطیان په زندان کې باید د خپلو زیانمنو نظرونو د خورولو څخه منع کړی شي.

# ضمیمه: ددې سند د چمتو کولو پروسه

[۱] مونږ اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو سره د ملاقاتونو کولو، وړاندیزونو راکولو او نورو تعاملاتو له لارې د تماس او تړون د پروسې پر مهال یوه لویه اندازه مواد ترلاسه کړل. اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو سره ملاقاتونه په خصوصي توګه ترسره شول، ولې شاهي کمیسون، د هغو کسانو چې مونږ ورسره لیدل په اجازه، د هغه څه چې مونږ اورېدل د ریکارډ لپاره یادداښتونه اخیستل.

[۲] مونږ خپل یادداښتونه او هغه ډېر نور مواد چې مونږ د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو بچ شوو او شاهدانو څخه ترلاسه کړي وو یو بل سره وکتل تر څو مشترک موضوعات او مضامین پکې پیدا کړو. دې مونږ وتوانولو چې د مشخصو خلکو د دقیقو تجربو د نقل قول راوړلو په ځای دلته د هغوی کیسې، تجربې او ثبوتونه په عمومي ټکو کې بیان کړو، چې په دې توګه هغوی سره زمونږ د مکالمو د خصوصي نوعیت احترام وشي. چیرته چې نقل قول راوړل شوی دی نو مونږ د هغې د استعمال لپاره اجازه غوښتلې او ترلاسه کړې ده.

[۳] دا سند په تروریستي برید کې د تر ټولو زیاتو اغېزمنو شوو کسانو د کیسو، تجربو او ثبوت څخه کوم نتایج نه اخلي او نه پرې کومه تبصره کوي. او نه یو نظر ته په بل ترجیح ورکوي. برعکس، ددې سند نیت دا دی چې د تروریستي برید د 51 شهیدانو whānau ، ژوندو بچ شوو، شاهدانو او د هغوی د whānau غږ او خبرو ته یو وقف ځای ورکړی شي. دغه غږونه حق لري چې واورېدل شي.

ہمارا نشان، کورو (the koru)
ہمیشہ قائم اور دائم رہنے والے
نیوزی لینڈ (Aotearoa)اوٹیاروا
سے متاثر ہے۔
(The un furling fern frond)انفورلنگ فرن فرونڈ
امن ، سکون ، ترقی ، مثبت تبدیلی
اور بیداری کا نمائندہ ہے۔ امن کا یہ پہلو
بنیادی طور پر دین اسلام کے معنی میں بھی پنہاں ہے۔
(taonga)ہم اس انتہائی قیمتی خزانے
اور وہ سفر جو نیوزی لینڈ کو
ایک محفوظ زیادہ جامع معاشرے بننے کے لئے
آگے درپیش ہے کو ایک دوسرے کے ساتھ دیکھتے ہیں۔
کا سات گروپوں کے ساتھ(the koru) کورو
سات انفورلنگ فرونڈ (un furling frond)
کا ڈیزائن یہ بھی تسلیم کرتا ہے کہ
15 مارچ 2019 کو اسلامی قمری کیلنڈر کے مطابق
7 رجب 1440 تھا جو کہ
ساتویں اسلامی مہینے کا ساتواں دن ہے۔